
ګراف په مفصل حل کې دی.

ب- د وښو زخیره په 340 kg ډکه شوه.

پ - د نږدې 38,7 ورځو وروستهد وښو ګودام بیرته ډک شوی دی.

څلورم:

الف- له 175 دقیقووروسته نرخمساوات واک لري (€ 19).

ب- دHB چوپړ مساعد دی، ځکه چې په € 25 کیدی شي 275 دقیقې تلفو وکړی شي.

برعکس HP د € 25 سره فقط د250 قیقو لپاره بسیا کوي. ګراف د مفصل حل لاندې میندلی شئ.

پنځم:

الف-دا د پیسو ورکړې له 2,5 کاله وروسته ګټوره وه. په داوړو حالتونو کط دا تراوسه په جریان کې لګښت € 62500 دی.

ب- ګراف په مفصل ځواب کط میدل کیږي.

شپږم:

الف- تابعترم: $f(x) = \frac{17}{160}x$

(c) ketabton.com: The Digital Library

ب-

$$f(100) = 10,625 \qquad f(250) = \frac{425}{16} \approx 26,563$$

$$f(x) = 25 \Leftrightarrow x = \frac{4000}{17} \approx 235,3$$

پ- ګراف تر مفصل ځواب لاندې وکورئ

اوم:

الف-

د °F په °C اړوني لپاره باور لري: $f(x) = \frac{5}{9}(x-32)$ xپه °F او f(x) په °C

پ- د لمپا ډوډوکي تودوخي $35\ ^0C$ ده.

ت-په یوه $104\ ^0F$ تودوخی سره باید د تبې ټیټیدنې لپاره تیاری ونیول شي.

مفصل حلونه

لومړی:

الف- متحولي یا اووښتوني : xد اونۍ په معنا دي

y=f(x) په کیلوګرام د کافي زخیره ډپرئ یا ستړ ده .

$f(x) = a_1x + a_0$ د کربنیز مساوات عمومي بڼه.

اونۍ0 :f(0) = -0,35.0+1,8=1,8

(c) ketabton.com: The Digital Library

اونئ1: f(1) = -0,35.1+1,8=1,45

اونئ2: f(2) = -0,35.2+1.8=1.1

.....

اونئ x:=f(x) = -0,35.x+1,8

د کافي کمښت زخیرې لپاره د تابع مساوات.

ب – د کافي زخیره مصرف شوې په دې معنا دی، چې:

$$f(x) = 0 \Leftrightarrow -0,35x + 1,8 = 0 \mid -1,8$$
$$\Leftrightarrow -0,35x = -1,8 \mid : (-0,35)$$
$$\Leftrightarrow x = \frac{180}{35} = \frac{36}{7} \approx 5,143$$

مساوات دې د x پسې حل شي.

د نږدې پنځه اونیوورسته نوره کافي یا قهوه شتون نه لري.

پ- فقط کافي لرو په دې معنا، چې :

$$f(x) = 0,4 \Leftrightarrow -0,35x + 1,8 = 0,4 \mid -1,8$$
$$\Leftrightarrow -0,35x = -1,4 \mid : (-0,35)$$
$$\Leftrightarrow x = \frac{140}{35} = \frac{28}{7} = 4$$

د څلور اونیوورسته فقط 4g کافي پاتې ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



دویم: د زیات کار ساعتو تعداد x ورکړشوی نغد معاش f(x) دی.

دوه ارزښت کاغذونه ورکړ شوي دي: $P_1(43\,|\,3559)$ او $P_2(27\,|\,3223)$

$$a_1 = \frac{y_2 - y_1}{x_2 - x_1} = \frac{3223 - 3559}{27 - 43} = \frac{-336}{-16} = 21 \Rightarrow f(x) = 21x + a_0$$

(a1 د زیات کار ټول معاش a0 بنسټ معاش)

$$P_1(43\,|\,3559) \Rightarrow f(43) = 3559 \Leftrightarrow 21 \cdot 43 + a_0 = 3559$$
$$\Leftrightarrow 903 + a_0 = 3559\,|\,-903$$
$$\Leftrightarrow a_0 = 2656$$
$$\Rightarrow f(x) = 21x + 2656$$

(c) ketabton.com: The Digital Library

بنسټ معاش € 2656 دی، د زیات ساعت کار معاش€ 21 دی.

دریم:

الف-

$$f(x) = -7,5x + a_0$$
$$P(12 \mid 250) \Rightarrow f(12) = 250 \Leftrightarrow -7,5 \cdot 12 + a_0 = 250$$
$$\Leftrightarrow -90 + a_0 = 250 \mid +90$$
$$\Leftrightarrow a_0 = 340 \Rightarrow f(x) = -7,5x + 340$$



پروت: وخت په ورځو. ولاړ: ډېرې (مقدار) په کیلوګرام
ب ـ د ډکولو وخت په x = 0 کې دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

$$\Rightarrow f(0) = -7,5 \cdot 0 + 340 = 340$$

د وښوزخیره دولس ورځي د مخه په 340 kg ډکه شوه.

پ-

$$f(x) = 50 \Leftrightarrow -7,5x + 340 = 50 \mid -340$$
$$\Leftrightarrow -7,5x = -290 \mid :(-7,5)$$
$$\Leftrightarrow x = \frac{580}{15} = \frac{116}{3} \approx 38,7$$

له 38,7 ورځو وروسته دې د وښو زخیره بیرته ډکه شي.

څلورم: الف-

$$HB: K_1(x) = 0,06x + 8,5 \qquad HP: K_2(x) = 0,08x + 5$$

د قیمت مساوات د دواړو کربنو په غوڅي(تقاطع) کې پروت دی.

$$K_2(x) = K_1(x) \Leftrightarrow 0,08x + 5 = 0,06x + 8,5 \mid -0,06x$$
$$\Leftrightarrow 0,02x + 5 = 8,5 \mid -5$$
$$\Leftrightarrow 0,02x = 3,5 \mid :0,02$$
$$\Leftrightarrow x = 175$$
$$K_1(175) = 0,06 \cdot 175 + 8,5 = 19$$
$$K_2(175) = 0,08 \cdot 175 + 5 = 19$$

د 175دقیقو وروسته دد قیمت مساوات برقرار دي(€ 19).

ب-

$$HB:$$
$$K_1(x) = 25 \Leftrightarrow 0,06x + 8,5 = 25 \mid -8,5$$
$$\Leftrightarrow 0,06x = 16,5 \mid :0,06$$
$$\Leftrightarrow x = 275$$

(c) ketabton.com: The Digital Library

HP:

$$K_2(x) = 25 \Leftrightarrow 0{,}08x + 5 = 25 \mid -5$$
$$\Leftrightarrow 0{,}08x = 20 \mid :0{,}08$$
$$\Leftrightarrow x = 250$$

د HB خدمت مساعد دی، ځکه چې د€ 25 لپاره سړی کړی شي 275 دقیقې تلفون وکړي.

برعکس د HP لپاره € 25 فقط د 250 دقیقو لپاره بسیا کوي.

پ-



پروت: وخت په دقیقو. ولاړ:نرخ ا قیمت په یورو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پنځم: الف- y- محور : لګښت x-محور: کلونه

ګرموونې یا بخارئ :f(x) = 25000x

له لرې تودوخې: g(x) = 5000x+50000

د لګښت مساوات د دواړو کربنو غوڅې(تقاطع) کې واک لري.

$$f(x) = g(x) \Leftrightarrow 25000x = 5000x + 50000 \mid -5000x$$
$$\Leftrightarrow 20000x = 50000 \mid :20000$$
$$\Leftrightarrow x = 2,5$$
$$f(2,5) = 25000 \cdot 2,5 = 62500$$
$$g(2,5) = 5000 \cdot 2,5 + 50000 = 62500$$

پانګونه له دوه نیم کالو وروسته ګټوره تمامه شوه. په دواړو حالتونو کې تردې وخت لګښتونه € 62500 دي.

ب- لاندې: پروت وخت په کلونو. ولاړ: قیمت یا لګښت



(c) ketabton.com: The Digital Library

شپږم: الف- y-محور خوږه(بوره) x -محور ګني

80kg ګني لرو 8,5kg بوره یا ګوړه لاس ته راځي P1(80;8,5)

0kg ګني 0kg خوږه لاس ته راځي P2(0;0) پیلکرښه a0=0لاس ته راځي

جګوالی: $a_1 = \frac{8,5}{80} = \frac{17}{160} \Rightarrow f(x) = \frac{17}{160}x$

$$f(x) = \frac{17}{160}x \Rightarrow f(100) = \frac{17}{160} \cdot 100 = 10,625$$

$$f(250) = \frac{17}{160} \cdot 250 = \frac{425}{16} \approx 26,563$$

$$f(x) = 25 \Leftrightarrow \frac{17}{160}x = 25 \mid : \frac{17}{160} \Leftrightarrow x = \frac{4000}{17} \approx 235,3$$

ب-

له 100 kg ګنیو څخه 10,625 kg خوږه ګټل کیږي. له ګنیو څخه کیدی شي نږدې خوږه وګټل شي. د 25 kg حوږې لپاره نږدې 235,3 kg ګنیو ته اړتیا شته.

پ-



(c) ketabton.com: The Digital Library

پروت: ګني په کیلوګرام. ږلاړ: ګوړه په کیلوګرام

اوم:

الف- y-محور : °C x-محور:°F

$$f(x)=a_1x+a_0 \qquad P_1(32\mid 0) \qquad P_2(212\mid 100)$$

$$a_1=\frac{y_2-y_1}{x_2-x_1}=\frac{100-0}{212-32}=\frac{100}{180}=\frac{5}{9}\Rightarrow f(x)=\frac{5}{9}x+a_0$$

$$P_1(32\mid 0): f(32)=0 \Leftrightarrow \frac{5}{9}\cdot 32+a_0=0$$

$$\Leftrightarrow \frac{160}{9}+a_0=0\mid -\frac{160}{9}$$

$$\Leftrightarrow a_0=-\frac{160}{9}\Rightarrow f(x)=\frac{5}{9}x-\frac{160}{9}=\frac{5}{9}(x-32)$$

$\underline{f(x)=\frac{5}{9}(x-32)}$ د °F اړول یا بدلون په °C لپاره باور لري:

x په °F او y په °C

ب- y-محور: °C x-محور:°F

$$f(x)=a_1x+a_0 \qquad P_1(0\mid 32) \qquad P_2(100\mid 212)$$

$$a_1=\frac{y_2-y_1}{x_2-x_1}=\frac{212-32}{100-0}=\frac{180}{100}=\frac{9}{5}\Rightarrow f(x)=\frac{9}{5}x+a_0$$

$$P_1(0\mid 32): f(0)=32 \Leftrightarrow \frac{5}{9}\cdot 0+a_0=32\Rightarrow a_0=32$$

$$\Rightarrow f(x)=\frac{9}{5}x+32$$

(c) ketabton.com: The Digital Library

د °F اړول یا بدلون په °C لپاره باور لري: $f(x)=\frac{9}{5}x+32$

x په °C او f(x) په°F

$$95\,^0F=?^0C \quad f(x)=\frac{5}{9}(x-32)\Rightarrow f(95)=\frac{5}{9}(95-32)=\frac{5}{9}\cdot 63=\underline{\underline{35\,^0C}}$$

د اخورمینځي تودوخي $35\,^0C$ ده.

ت –

$$40\,^0C=?^0F \quad f(x)=\frac{9}{5}x+32\Rightarrow f(40)=\frac{9}{5}\cdot 40+32=\underline{\underline{104\,^0F}}$$

د $104\,^0F$ تودوخئ سره باید د تبې ټیټیدونکي لارې چارې ونیول شي یا اقدام وشي.

پوښتنې

کربنیز مساوات XVI

لومړی: یوه د میوې وپښتنې فابریکه په خپل موټر د څښاک کارټن د رسولو لپاره په هره کارټن € 0,80 د میاشتې فیکس یا ځای په ځای لګښت € 840 شمیري.

الف – د x کارټنونو د رسولو د لګښت لپاره یو د لګښت تابع منځ ته راوړی. د 2500 کارټنونو د رسولو لپاره څومره لګښت منځ ته راځي؟

ب – یو د موادو رسولو شرکت د څښاک موادو رسولو لپاره په هر کارټن € 1,15 وړاندیز کوي. د x کارټنونو د رسولو د لګښت یو ترم ولیکی. د کوم د رسولوګنون یا –تعداد لپاره د رسولو شرکت لګښت مساعد ده؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

پ- د میوې فاربریکې ته یو وړاندیز وړاندې کړی، چې د لګښت سپما د 4000 کارتونونو سره به € 680 وي.

دویم –

په یوه ملي اقتصاد مودل کې مصارف کربنیز د چمتوالي معاش په واک کې دي. د یوه € 1000 معاش سره لګښت € 900 دی. د € 1800 معاش سره به .€ 1460 وي.

الف – د مصرف تابع K لپاره تابع ترم ولیکی.

ب – د مصرفوني جګوالی وشمیری که معاش € 800 همداسې € 2500، همداسې € 4000 وی.

پ-

د مصرفکچه(quote) د معاش برخه ده چې د مصرف یا لګښت لپاره کارول کیږي معاش: لګښت = د لګښت کووتې ((Konsumquote = Konsum / Einkommen)) د مصرف کووتې د په ب – کې معاش څخه وټاکی. کومې تولیزې اړیکې د مصرفکووتو او معاش ترمنځ شتون لري؟

ت -د معاش زیاتولی .dx دی. څو په سلو کې د معاش زیاتوالی د مصرف لپاره ورکړ شوی دی؟

ټ -کوم تابع S د معاش په واکوالي کې د سپماتوان تشریح کوي. تابعK اوS ګرافیکي انځور کړی. دS صفرځای کوم غوره والی لري؟

دریم –

یو اوسپنه وړونکی $l_0 = 85\ m$ اوږد دی او د پرسېدنې ضریب یې

$$\alpha = \frac{12 \cdot 10^{-6}}{K} \quad (K \triangleq \text{Grad Kelvin})$$

(c) ketabton.com: The Digital Library

دی. یو تابع ترم $l(\Delta t) = l_0 + \alpha \cdot l_0 \cdot \Delta t$ د اوسپنې باروړونکي اوږدوالی په ګوته کوي، د په K تودوخې Δt په واکوالي کې.

الف – د دې اوسپنې وړونکي د تابع ترم ورکړئ

ب- د لاندې تودوخې تغیر سره د اوسپنې وړونکي اوږدوالی و شمیرئ.

: 30 K ; 60 K ; 40 K.

پ- اوسپنه وړونکی باید څومره اوږدوي، چې د25 K تودوخې په جګوالي د اوږدوالی تغیر 25 mm وکړي؟

حلونه

کربنیز مساوات XVI

مفصل حلونه

لومړی:

الف- $K_1(x) = 0,8x + 840$

کارتونونه: $K_1(x) = 0,8 \cdot 2500 + 840 = 2840$ 2500

د 2500 کاتونونو وړنه $\underline{\underline{2840\,€}}$ قیمت لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ب- $K_1(x)=0,8x+840$ فابریکه $K_2(x)=1,15x$ لوګیستیکي فیرما

د نرخ توپیر: $U(x)=K_1(x)-K_2(x)=0,8x+840-1,15x=-0,35x+840$

د فابریکي لپاره ګټه که $U(x)>0$

$=>-0,35x+840>0 \Leftrightarrow -0,35x>-840 \Leftrightarrow x<240$

تر 2400 پورې کارتونونه لوګیتیکي فیرما مساعد قیمت لري.

پ – نوی لګښت تابع د لوګیتیکي فیرما لپاره: $K_2(x)=a_1x$

د لګښت توپیر: $U(x)=K_1(x)-K_2(x)=0,8x+840-a_1x=(0,8-a_1)x+840$

په 4000 کارتونونو کې ګټه €680 ده.

له دې لاس ته راځي، چې

$$\Rightarrow U(4000)=(0,8-a_1)\cdot 4000+840=680 \Leftrightarrow 0,8-a_1=\frac{680-840}{4000} \Leftrightarrow a_1=0,84$$

$$\Rightarrow \underline{\underline{K_2(x)=0,84x}}$$

دا په دې معنا دی چې €0,84 په یوه کارتون.

دویم:

الف- خپلواکه اووښتونې(متحوله) معاش=x

بلواک متحوله =y=K(x) د خوراک لګښت(کربنیزه اړیکې)

$$\Rightarrow K(x)=a_1x+a_0$$

(c) ketabton.com: The Digital Library

له ورکو شویو شرایطو لرو: $P_1(1000\,|\,900)\,;\,P_2(1800\,|\,1460)$

$$\Rightarrow a_1=\frac{y_2-y_1}{x_2-x_1}=\frac{1460-900}{1800-1000}=\frac{560}{800}=0,7\Rightarrow K(x)=0,7x+a_0$$

$$P_1(1000\,|\,900):\quad K(1000)=0,7\cdot 1000+a_0=900\Rightarrow a_0=200$$

$$\Rightarrow \underline{\underline{K(x)=0,7x+200}}$$

ب-

$$K(800)=0,7\cdot 800+200=760\Rightarrow \underline{\underline{P_1(800\,|\,760)}}$$

$$K(2500)=0,7\cdot 2500+200=1950\Rightarrow \underline{\underline{P_2(2500\,|\,1950)}}$$

$$K(4000)=0,7\cdot 4000+200=3000\Rightarrow \underline{\underline{P_3(4000\,|\,3000)}}$$

	$\text{د لګښت کچه}=\frac{\text{لګښت}}{\text{معاش}}=K(x)/x$
$=\frac{760}{800}=0,95\triangleq \underline{\underline{95\%}}$	معاش 800€ له دې لاس ته راځي
$=\frac{1950}{2500}=0,78\triangleq \underline{\underline{78\%}}$	معاش 2500€ له دې لاس ته راځي
$=\frac{3000}{4000}=0,75\triangleq \underline{\underline{75\%}}$	معاش 400€ لاس ته راځي
پ-	تولیزې اړیکې:
$=\frac{K(x)}{x}=\frac{0,7x+200}{x}=0,7+\frac{200}{x}$	د لګښت کچه=

پام: هرځومره چې معاش جګ وي، همغومره لګښت ارزښت 0,7 ته نږدې کیږي، داپه دې معنا، چې لږترلږه 70% دا په واک کې معاش د مصرف یا خوراک لپاره لګیږي. دا پاتې کیدی شي سپما شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ت- ایښونه: زوړ معاش نوی معاش د معاش زیاتوالی	$x \Rightarrow K(x) = 0,7x + 200$ $x + dx \Rightarrow K(x + dx) = 0,7(x + dx) + 200$ $x + dx - x \Rightarrow K(x + dx) - K(x)$

$$\Leftrightarrow 0,7(x + dx) + 200 - (0,7x + 200) = \underline{\underline{0,7dx}}$$

تړ لاس ته راتلنه: په تعقیب یا تړ لاس ته راتلنه: 70% د معاش زیلتوالی د خوراک یا لګښت لپاره لګیږي. دا د K(x) جګوالی په ګوته کوي.

ټ- هرڅه چې نه لږیږي هغه سپما کیږي:

$$S(x) = x - K(x) = x - (0,7x + 200) = \underline{\underline{0,3x - 200}}$$



(c) ketabton.com: The Digital Library

د لګښت تابع: S(x)=د سپما تابع ، E(x)=معاش.

د S(x) صفرځای:

$$S(x)=0 \Leftrightarrow 0,3x-200=0 \Leftrightarrow x=666,\overline{6}$$

د صفرځای غوره والي: لومړی له یوه معاش وروسته کیدی شي زخیره یا سپما شي. په دې مودل کې د شتون مینیموم جوړوي. د شتون مینیمومو کښته پوروړی کیږي، ځکه چې انسان له یوه څه څخه باید ژوند وکړي.

دریم:

الف- $$l(\Delta t)=l_0+\alpha\cdot l_0\cdot\Delta t=85\,m+\frac{12\cdot 10^6}{K}\cdot 85\,m\cdot\Delta t=\underline{\underline{85\,m+0,00102\cdot\Delta t\cdot\frac{m}{K}}}$$

$$\Delta t=30\,K:\quad \Rightarrow l(30)=85\,m+0,00102\cdot 30\cdot m=\underline{\underline{85,0306\,m}}$$

$$\Delta t=60\,K:\quad \Rightarrow l(60)=85\,m+0,00102\cdot 60\cdot m=\underline{\underline{85,0612\,m}}$$

$$\Delta t=40\,K:\quad \Rightarrow l(40)=85\,m+0,00102\cdot 40\cdot m=\underline{\underline{85,0408\,m}}$$

ب -

$$\Delta t=30\,K:\quad \Rightarrow l(30)=85\,m+0,00102\cdot 30\cdot m=\underline{\underline{85,0306\,m}}$$

$$\Delta t=60\,K:\quad \Rightarrow l(60)=85\,m+0,00102\cdot 60\cdot m=\underline{\underline{85,0612\,m}}$$

$$\Delta t=40\,K:\quad \Rightarrow l(40)=85\,m+0,00102\cdot 40\cdot m=\underline{\underline{85,0408\,m}}$$

پ- د اوږدوالي تغیر: $\Delta l=25\,mm=0,025\,m$ د تودوخې تغیر: $\Delta t=25\,K$

$$l(\Delta t)=l_0+0,025\,m$$

$$l(\Delta t)=l_0+\alpha\cdot l_0\cdot\Delta t \quad \Rightarrow l_0+0,025\,m=l_0+\alpha\cdot l_0\cdot\Delta t \Leftrightarrow l_0=\frac{0,025\,m}{\alpha\cdot\Delta t}$$

$$l_0=\frac{0,025\,m}{\alpha\cdot\Delta t}=\frac{0,025\,m}{12\cdot 10^{-6}\cdot 25}=\frac{25\cdot 10^{-3}\,m}{12\cdot 10^{-6}\cdot 25}=\frac{10^{-3}\,m}{12\cdot 10^{-6}}=\frac{1}{12}\cdot 10^3=\underline{\underline{83,\overline{3}\,m}}$$

(c) ketabton.com: The Digital Library

یو باروړونکي اوسپنه چې 83,33 mاوږده ده د یوې 25 K تودوخې سره 25 mm اوږدیږي یا غزیږي.

پوښتنې

کربنیز توابع برخه XVII

لومړی: څیره د یوه کربنیز لګښت ګراف ښایي(ټول لګښت)

الف- له ګراف څخه ځای په ځای لګښت راواخلئ او متحول دانه قیمت په € سره ورکړئ. د یوه x ډېرئ یونونو یا سټ واحدونو(ME) تولید سره ټول لګښتK ورکړئ.



الف- له ګراف څخه ځای په ځای لګښت راواخلئ او متحول دانه قیمت په € سره ورکړئ. د یوه x ډېرئ یونونو یا سټ واحدونو(ME) تولید سره ټول لګښتK ورکړئ.

ب- کوم د خرڅلاوقیمت په هر ME کې لاس ته راوړل کیږي، که 175 ME تولید شي او تاوان تري منځ ته را نه شي.

دویم: د تنیس توپونو تولید لپاره لګښت K کربنیز د تولید شوو توپونوتعداد x په واک کې دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



الف- د 1000 همداسي3000 د توپونو يا غونډوسکو(کرو) توليدد څومره ګران دی؟ د لښت تابع K لپاره يو ترم ورکړئ. ځای په ځای لګښت K_f څومره دی؟ د متحولو دانه لګښت k_v څومره لوړ دی؟

ب – د لګښت پوره کولو لپاره تر 2500 دانو پورې يو ټول ارزښت $E_1 = 750$ € باور لري. له 2500 دانو يا توپونو پورته ګټه يا خرڅلاو د توپونو د خرڅلاو د تعداد (E_2) سره کربنيز جګيږي. د $x > 2500$ لپاره د خرڅلاو تابع $E_2(x)$وټاکئ او غوڅټکي S_1 او S_2 . د S_1 او S_2 ترمنځ د x –ارزښتونو باندې کومنتار ورکړئ.

دريم: د دې لپاره چې يوه فنر(بنکه) د فنرتلې په ځير وکارولی شو، په فنر باندې اغيزمنه وزنزور F_G (په نيوټون N) او د فنر تغير x (په cm) تر منځ اړيکو څخه کره يا ټاکل کيږي.



الف- په فنرF_2 د فنر ثابتهD وټاکئ. څه معنا لري؟

ب- يو ترم وټاکئ، چې له تغير x څخه د قوې يا زور F په واکوالی تشريح کوي.

ايا شوني ده، چې د دې فرمول سره سره د 1 m تغير لپاره اړينه قوهF_G کره يا معلومه شي؟

پ-ايا شوني ده،چې د دې فرمول سره د 1 m تغير لپاره منځ ته راغلی زور F_G وټاکو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ت- د فنر F_1 همداسي F_2 لپاره مختلف فنر ثابتي څه معنا لري؟

څلورم: د یو نړیوالجال چلوونکی مشتریانو ته لاندې وړاندیز وړاندې کوي:

۵۰ ساعته انترنت، ټول لګښت€ 27,50 . هره پسې دقیقه 1 Ct سنت.

دوه تاریف مودولونو باندې کار وکړئ، چې د انترنت استعمالکوونکي ته د ۵۰ ساعتو لپاره همدا یا برابر شرایط ورکړي.

الف- ترخ ۱ بې له بنسټلګښت.

ب- نرخ۲ : د € 8 بنسټلګښت.

پ-د ۵۰ ساعته څخه زیات د کارولو دوام لپاره کوم تاریف یا نرخ مساعد دی؟

ځوابونه

کربنیز توابع برخه XVII

مفصل حلونه

لومړی:

د فابریکي د لګښتشمیرنې کلیمو تعریفونه:

ځای په ځاي لګښت ټول لګښت

دا هغه لګښت دی، چې تولید ونه شي د فابریکي ټول هغه لګښت دی، چې

هلته هم رامنځ ته کیږي(ګټه (ورکونه)، د یوه شي په تولید کې رامنځ ته کیږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

کرایه،بیمه، معاشونه او نور) K(x) .

$$K_f(x) = K(0)$$

د یوې دانې متحول ارزښتونه د متحولې ټول ارزښتونه

د متحولې لګښت دی په هره دانه ټول لګښت بې له ځا په ځای لګښت څخه

$$k_v(x) = \frac{K_v}{x} = \frac{K(x) - K_f(x)}{x} = \frac{K(x) - K(0)}{x}$$

$$k_v(x) = \frac{K_v}{x} = \frac{K(x) - K_f(x)}{x} = \frac{K(x) - K(0)}{x}$$

د ګټې تابع کربنیزه خرڅلاو تابع

د خرڅلاو- ټول لګښت د قیمت ضرب منځ ته راوړې ډېرئ یا ستې x

$$G(x) = E(x) - K(x) \qquad E(x) = p \cdot x$$

الف- دلته د لګښت تابع یو کربنیز مساوات دی:K(x)=a1x+a0

ځا په ځاې لګښتونه K(0)=a0=450€ دي (له ګراف څخه لوستل شوی)

متحول لګښتونه دي: $k_v(x) = \frac{K(x) - K(0)}{x} = \frac{a_1 x + a_0 - a_0}{x} = a_1$

دا ټیک د K(x) د کربنې جګوالی دی

ټکي $P_1(0|450)$ او $P_1(200|500)$ لوستل کیږي

له دې لاس ته راځي $\Rightarrow a_1 = \frac{500 - 450}{200 - 0} = 0,25 \Rightarrow$ له دې لاس ته راځي د متحولې

یا اووښتونې د دانې قیمت $k_v = 0,25 €$

(c) ketabton.com: The Digital Library

لګښت تابع: $K(x) = 0,25x + 450$

ب – ګټه: G(x)=E(x)-K(x)

که چیرته زیان رامنځ ته نه شي، باید ګټه لږ تر لږه صفر وي.

$$\Rightarrow E(x) - K(x) = 0$$

له $E(x) = p \cdot x$ او $K(x) = 0,25x + 450$ لاس ته راځي

$$p \cdot x - (0,25x + 450) = 0 \Leftrightarrow p \cdot x = 0,25x + 450$$
$$\Leftrightarrow p = \frac{0,25x + 450}{x} = 0,25 + \frac{450}{x}$$

د x=175ME لپاره باور لري: $p(175) = 0,25 + \frac{450}{175} = 2,821$

د یوې دانې قیمت باید لږ تر لږه 2,821€وي، چې له دې سره کوم زیان رامنځ ته نه شي.

دویم:

الف - 1000توپونه: ، 3000 توپونه:

لګښت تابع:K(x) = a1x+a0

$$P_1; P_2 \Rightarrow a_1 = \frac{1000 - 600}{3000 - 1000} = 0,2 \Rightarrow K(x) = 0,2x + a_0$$
$$P_1(1000 \mid 600): \quad K(1000) = 0,2 \cdot 1000 + a_0 = 600 \Rightarrow a_0 = 400$$
$$\Rightarrow \underline{\underline{K(x) = 0,2x + 400}}$$

ځای په ځای ارزښت:K(0) = a0 =400€

(c) ketabton.com: The Digital Library

متحول ارزښتونه: $k_v = a_1 = \underline{\underline{0,2\ €}}$

ب – ګټه: G(x)=E(x)-K(x)

که چیرته زیان رامنځ ته نه شي، باید ګټه لږ تر لږه صفر وي.

$$\Rightarrow E(x) - K(x) = 0$$

له $E(x) = p \cdot x$ او $K(x) = 0,25x + 450$ لاس ته راځي

$$p \cdot x - (0,25x + 450) = 0 \Leftrightarrow p \cdot x = 0,25x + 450$$
$$\Leftrightarrow p = \frac{0,25x + 450}{x} = 0,25 + \frac{450}{x}$$

د x=175ME لپاره باور لري: $p(175) = 0,25 + \frac{450}{175} = 2,821$

د یوې دانې قیمت باید لږ تر لږه 2,821€وي، چې له دې سره کوم زیان رامنځ ته نه شي.

دویم:

الف - 1000توپونه: ، 3000 توپونه:

لګښت تابع:K(x) = a1x+a0

$$P_1; P_2 \Rightarrow a_1 = \frac{1000 - 600}{3000 - 1000} = 0,2 \Rightarrow K(x) = 0,2x + a_0$$
$$P_1(1000 \mid 600): \quad K(1000) = 0,2 \cdot 1000 + a_0 = 600 \Rightarrow a_0 = 400$$
$$\Rightarrow \underline{\underline{K(x) = 0,2x + 400}}$$

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځاي په ځاي ارزښت:$K(0) = a0 =400€$

متحول ارزښتونه: $k_v = a_1 = \underline{\underline{0,2\ €}}$

ب- د $x < 2500$ لپاره خرڅلاو تابع: $E(x) = 750$

د $x > 2500$ لپاره خرڅلاو تابع:

$$P_1(2500 \mid 600); P_2(4000 \mid 1200) \quad E_2(x) = a_1 x + a_0$$
$$a_1 = \frac{1200 - 600}{4000 - 2500} = 0,4 \Rightarrow E_2(x) = 0,4x + a_0$$
$$P_2(4000 \mid 1200): \quad E_2(4000) = 0,4 \cdot 4000 + a_0 = 1200 \Rightarrow a_0 = -400$$
$$\Rightarrow \underline{\underline{E_2(x) = 0,4x - 400}}$$

غوڅټکی S1 :

$$K(x) = E_1(x) \Leftrightarrow 0,2x + 400 = 750 \Rightarrow x = 1750$$
$$K(1750) = 750 \Rightarrow \underline{\underline{S_1(1750 \mid 750)}}$$

غوڅټکی S2 :

$$E_2(x) = K(x) \Leftrightarrow 0,4x - 400 = 0,2x + 400 \Rightarrow x = 4000$$
$$K(4000) = 0,2 \cdot 4000 + 400 = 1200 \Rightarrow \underline{\underline{S_2(4000 \mid 1200)}}$$

روښانه ونه: د $1750<x<4500$لپاره یو زیان منځ ته راځي، ځکه چې$E(x) < K(x)$ د $E1(x)$غوڅټکی د $E2(x)$ سره S3 دی

$$E_2(x) = E_1(x) \Leftrightarrow 0,4x - 400 = 750 \Leftrightarrow x = 2875$$
$$E_2(2875) = 0,4 \cdot 2875 - 400 = 750 \Rightarrow \underline{\underline{S_3(2875 \mid 750)}}$$

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مشتري لپاره ورشو $2500 < x < 2875$ ډېره راکښړنکي یا د پام وړ ده.

دی د بیلګې په توګه 2800 توپونه د مساعده قیمت په حیث لاس ته راوړي نسبت 2500 توپونو ته

دریم:

الف- د فنر F2 د فنر ثابته: $D_2 = \frac{F}{x} = \frac{50\,N}{4\,cm} = 12{,}5\,\frac{N}{cm}$

د فنرثابته د کربنې د جګیدنې لپاره یوه کچونه ده.

ب –

$$D_1 = \frac{100\,N}{4\,cm} = 25\,\frac{N}{cm} \Rightarrow \underline{\underline{F_1(x) = 25\,\frac{N}{cm} \cdot x}} \text{ und } \underline{\underline{F_2(x) = 12{,}5\,\frac{N}{cm} \cdot x}}$$

پ- نظري یا تیورتیکي : $F_1(100) = 25\,\frac{N}{cm} \cdot 100\,cm = 2500\,N$

په ربنتیا چې فنر د یومتر په کګونه غزیږي.

ت- د فنرونو مختلفې ثابتې د دواړو فنرونو کلکوالی بنایي.

څلورم:

الف- 50 ساعتونه = 3000 دقیقو، لګښت 27,50 €

له دې لاس ته راځي په دقیقه لګښت:

$$\frac{27{,}50\,€}{3000} = \frac{11}{1200}\,€ \quad \Rightarrow \underline{\underline{K_1(x) = \frac{11}{1200}x \approx 0{,}0092 \cdot x}}$$

(c) ketabton.com: The Digital Library

ب- 8 € بنسټ تادیه ونه، د 3000 دقیقو لپاره نوري .19,5 € پاتي کیږي.

لاس ته راځي چې:

لګښت په دقیقه: $\frac{19,50\ €}{3000} = \frac{13}{2000}\ €$

$$\Rightarrow K_2(x) = \frac{13}{2000}x + 8 = \underline{\underline{0,0065 \cdot x + 8}}$$

پ – دویم تاریفت یا نرخ د ۵۰ ساعته زیات استعمال څخه خورا مساعد دی، ځکه چې هره پسې دقیقه فقط 0,65سنت لګښت لري.

پوښتنې

کربنیز مساوات برخه XVIII

لومړی: چټک رستورانت،، MC – پومس(په غوړوو کې سره یاپاخه شوي الوګان)،، د پومس لوښي لپاره هره ورځ تازه غوړیو ته اړتیا لري. تر اوسه په زخیره کې 250 kg شته دي.

الف- د تابع مساوات ولیکئ او په یوه مناسب پروت-ولاړ- یا کواوردینات سیستم کې یې ګراف وکاږئ.

ب - د 95 kg زخیرې وروسته د رستورانت مشر باید د نورو فرمایش وکړي. له څومره ورځووروسته باید فرمایش صورت ونیسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا غوړي ترکومه وخت رسيږي، که پسې فرمايش ورنه کړای شي؟

دويم: د ،،ربنسن،، اسونو تبيله کې په ټاکلي وخت کې بايد (له سرو) پاک شي او له تازه وخو ته تيارې ونيول شي. د ورځې $2,5\ m^3$ سره ټوليږي. ډېران يو د $17\ m^3$ ډکی يا حجم لري. ماکسيمال يا خورا زيات $50\ m^3$ سره زخيره کيدی شي.

الف- يو تابع مساوات وليکئ چې دا حالت تشريح کوي او اړونده ګراف يې په يوه مناسب پروت-ولاړسيستم کې وکاږئ.

ب – له کوم وخت وروسته بايد سره يووړل شي؟

پ-څو ورځې د مخه د اخر ځل لپاره سره وړل شوې وه؟

دريم: ارين د ،،ارزان سرف،، نرخ ګوري

نرخ A : اساسي يا بنسټ نرخ € 5 د مياشت لومړي لس ساعتونه ازاد دي، بيا 0,5 Ct په دقيقه.

نرخB :اساسی يا بنسټ نرخ € 10 د مياشتې لومړي شل ساعتونه ا زاد، بيا 0,4 Ct. / min. يا په دقيقه.

نرخ C : Flatrate يا يه يوځل نرخ € 25 د مياشتې .

په منځنئ کچه ارمين د ورځې دونيم ساعته سرف کوي يا نړيوال جال ګوري.

الف- د هر نرخ پاره د تابع مساوات وليکئ.

ب- په يوه مناسب پروتولاړ- يا کواوردينات سيستم کې ګرافونه وکاږئ.

پ- (Interpretation)ټول څه تشريح کړئ، چې له ګرافونو څخه لوستل کيږي.

ت- د ارمين لپاره مساعد نرخ وشميرئ يا پيدا کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټ- د نرخ A او B لپاره په کوم ټکي کې د نرخ برابروالی برلاسی دی؟
ث- له کوم سرف وخت څخه د ارمین لپاره فلاتریټ یا ټولنرخ مساعد دی

څلورم: لوګر او علي د ملفون(لاسي تلفون) د قرارداد شرایط هیڅ نه دي لوستلی. دواړه غوښتنه لري، چې هغه مساعد قرارداد وکړي او دواړه په لاندې داتا باندې تکیه کوي: لورا 10,10 € ورکوي، که هغه د میاشتې دیرش دقیقې تلفون وکړي او 13,70 € که هغه شپیته دقیقې تلفون وکړي.

علي 10,10 € ، که هغه د میاشتې دیرش دقیقې تلفون وکړي او 15,20 € که هغه د میاشتې اتیا دقیقې تلفون وکړي.

الف- د دواړو قراردادونو لپاره تابعمساوات ولیکئ.

ب- دواړه ګرافونه په یوه مناسب پروتولار- یا کواوردینات سیستم کې وکاږئ.

پ- له دې دواړو کوم یو مساعد قرارداد لري. نتیجه یې مدلله کړئ.

پنځم: یو د انرژي قرارداد دنرخمودل د میاشتې بنسټ نرخ G او یوه لګښتقیمت p pro kWh په یوکیلووات په ساعت څخه جوړ دی.

له دې سره یوه کربنیزه اړیکه منځ ته راځي: K(x) = p.x+G

لاندې نرخ راته جمتو لرو:

نرخ	د میاشتنی لګښت په یورو	یو کیلووات قیمت په یورو
Tarif I	11,80	0,157
Tarif II	9,00	0,172
Tarif III	14,40	0,135
Tarif IV	18,50	0,125

(c) ketabton.com: The Digital Library

الف: د هر نرخ لپاره تابعمساوات ولیکئ او په یوه مناسب پروتولاړ- یا کواوردینات سیستم وکاوئ.

ب- د 800 kWh (۸۰۰ کیلوواټ په ساعت کې) د منځنئ کورنئ میاشتني لګښت مساعد پلورونکی پیداکړئ.

پ- په پروتولاړ-یا کواوردینات سیستم کې د کربنو غوټکي څه مفهوم لري؟

شپږم: کربنیزه تابع $f(x) = 0,4x - 2$ ورکړښوي. د تابع ګراف دx محور په زیاتیز یا مثبت لور په ۴ یوونونو یا واحدونو راکښل کیږي. د راکښلي کربني تابعترم g(x) وټاکئ. g(x)څنګه له f(x) څخه جوړیدی شي؟

مفصل حلونه

کربنیز مساوات برخه XVIII

سټ یا ډیرئیا مقدار په کیلوګرام ا  وخت په ورځو	الف- خپلواک اووښتوني یا متحوله x د وخت لپاره ځاپه ځای شوې. بلواک متحوله f(x) د په کیلوګرام د پاتې غوړیو لپاره ایښوول شوی پیل ارزښت 250 kg دی. تغیرکچه منفي یا کمیزه ده او 19 kg/Tag ده. $f(x) = a_1x + a_0$ mit $a_1 = -19$ und $a_0 = 250$ wird $f(x) = -19x + 250$

(c) ketabton.com: The Digital Library

ب – دا چې له 95 kg وروسته د نورو فرمایش ورکول کیږي، دا ایښوونه باور لري:

$$f(x) = 95 \Leftrightarrow -19x + 250 = 95 \mid \cdot(-1)$$
$$\Leftrightarrow 19x - 250 = -95 \mid +250$$
$$\Leftrightarrow 19x = 155 \mid : 19$$
$$\Leftrightarrow x = \frac{155}{19} \approx 8{,}156$$

فرمایش باید له اته ورځو وروسته صورت ونیسي.

پ – د ګراف غوڅټکی y –محور سره باید وټاکل شي:

$$f(x) = 0 \quad \Leftrightarrow -19x + 250 = 0 \mid \cdot(-1)$$
$$\Leftrightarrow 19x - 250 = 0 \mid +250$$
$$\Leftrightarrow 19x = 250 \mid : 19$$
$$\Leftrightarrow x = \frac{250}{19} \approx 13{,}158$$

غوړي نور هم د 13 ورځ، لپاره بسیا کوي.

دویم:

الف- الف- خپلواک اووښتوني یا متحوله x د وخت لپاره ځای په ځای شوي.

بلواک متحوله f(x) د په m^3 د پاتې سړي لپاره ایښوول شوی

پیل ارزښت $11\ m^3$ دی.

تغیرکچه مثبت یا زیاتیزه ده او$2{,}5\ m^3/Tag$ ده.

دا چې کربنیزه اړیکې شتون لري:

$f(x) = a_1x + a_0$ د $a_1 = 2{,}5$ او د $a_0 = 11$ سره کیږي $\underline{\underline{f(x) = 2{,}5x + 11}}$

(c) ketabton.com: The Digital Library

دېرې یا مقدار په m^3



وخت په ورځو

ب – وخت ټاکل کیږي له کوم وروسته چې سره $50\ m^3$ ته جګیږي.

$$f(x) = 50 \Leftrightarrow 2,5x + 11 = 50 \mid -11$$
$$\Leftrightarrow 2,5x = 39 \mid : 2,5$$
$$\Leftrightarrow x = \frac{78}{5} = 15,6$$

د نږدې پنځلس ورځو وروسته باید دا ناولتوب یووړل شي.

پ- د x محور سره د ګراف د غوځتکي د x –ارزښت په کمیزه ورشو کې ورکو چې کله اخرنۍ ناپاکي وړل شوې ده.

$$f(x) = 0 \Leftrightarrow 2,5x + 11 = 0 \mid -11$$
$$\Leftrightarrow 2,5x = -11 \mid : 2,5$$
$$\Leftrightarrow x = -\frac{22}{5} = -4,4$$

(c) ketabton.com: The Digital Library

نږدې له ۴ ورځو زیات دا ا خرنئ ناپاکي وړل شوي ده

دریم: الف- د المانې متن معنا،، له پورتهکښته لور ته: قیمت په یورو، فلاترات، رسمونه، وخت په ساعتونو.



y محور قیمت په یورو xمحور وخت په ساعتونو

نرخ A : که $0,5\,Ct/min$ وي، نو لرو:

دقیقې

(جګیدنه) $60\,min \cdot 0,5\,Ct/min = 30\,Ct/h = 0,3\,€/h$

$$\Rightarrow K_A(x) = 0,3x + a_0$$

10 ازاده ساعتونه په دې معنادي، چې په لومړنیو لس ساعتونو کې فقط بنسټ لګښت د 5€ دی.

له دې لاس ته راځي $P(10|5)$له دې ټکي د $K_A(x)$ ګراف ځغلي.

$$P(10|5) \Rightarrow K_A(10) = 5 \Leftrightarrow 0,3 \cdot 10 + a_0 = 5 \,|\, -3$$
$$\Leftrightarrow a_0 = 2$$

(c) ketabton.com: The Digital Library

د نرخ $K_A(x)$ لپاره د تابع مساوات: $K_A(x) = 0,3x + 2$

نرخ B : y محور قیمت په یورو xمحور وخت په ساعتونو

0,5Ct/min (10Ct په دقیقه دقیقي دي:

$$60\,\text{min} \cdot 0,4\,\text{Ct/min} = 24\,\text{Ct/h} = 0,24\,€/\text{h}$$

(جګیدنه)

$$\Rightarrow K_B(x) = 0,24x + a_0$$

شل ازاد ساعتونه په دي معنا دي، چې په اولنیو شل ساعتونو کې د 10€ بنسټ کرایه لویږي.له د ې لاس ته راځي P(20|10)

له دې ټکي د $K_B(x)$ ګراف تیریږي.

$$P(20|10) \Rightarrow K_B(20) = 10 \Leftrightarrow 0,24 \cdot 20 + a_0 = 10$$
$$\Leftrightarrow 4,8 + a_0 = 10 \mid -4,8$$
$$\Leftrightarrow a_0 = 5,2$$

د B نرخ لپاره تابع مساوات: $B: K_B(x) = 0,24x + 5,2$

نرخ C : فلیټ ریټ یا ټولنرخ 25€ دسرف وخت څخه خپلواک دی.

د تابع مساوات د نرخ C لپاره: F(x) =25 (د x -محور سره غبرګ)

په کواوردیناتسیستم کې له پورته کښته او پښتو: قیمت په یورو، نرخ A ,فلیټ، نرخ B ، دقیمت برابروالی.

پ- په نږدې 53 ساعتونو کې دواړه کربنې سره غوڅوي، په ټکي 53 کې قیمتبرابروالی واک لري. تر نږدې سلو پورې نرخ مساعد ی. د نږدې 53 او 82 ترمنځ نرخ مساعد دی. له 82 ساعته وروسته فلیټ ریټ یا ټولنرخ ګټور تمامیږي.

ت – ارمین په میاشت کې نږې 75 ساعته سرف کوي. د ده لپاره د دې سرف وخت لپاره نرخ مساعد وی. یو عساب به دا تایید:

(c) ketabton.com: The Digital Library

میاشتنی د سرفدوام:	2,5h.30=75 ساعته
د نرخ A قیمت:	$K_A(75) = 0,3 \cdot 75 + 2 = 24,50$
د نرخ B قیمت:	$K_B(75) = 0,24 \cdot 75 + 5,2 = 23,20$
د نرخ C قیمت	$F(75) = 25$

ټ – د نرخ A اوB نرخ د قیمتبرابروالی د دواړو کربنو د غوڅټکو څخه پیدا کیږي.

لاندې په پښتو:(۵۳ساعتونه او ۲۰ دقیقې)

$$K_A(x) = K_B(x) \Leftrightarrow 0,3x + 2 = 0,24x + 5,2 \mid -0,24x$$
$$\Leftrightarrow 0,06x + 2 = 5,2 \mid -2$$
$$\Leftrightarrow 0,06x = 3,2 \mid : 0,06$$
$$\Leftrightarrow x = x_s = \frac{320}{100} : \frac{6}{100} = \frac{320 \cdot 100}{100 \cdot 6} = \frac{320}{6} = \frac{160}{3}$$
$$= 53\frac{1}{3} \text{ (53 Stunden und 20 Minuten)}$$
$$K_A\left(\frac{160}{3}\right) = \frac{3}{10} \cdot \frac{160}{3} + 2 = 16 + 2 = 18$$

د قیمت برابروالی د ۵۳ ساعته او ۲۰ دقیقو وروسته په واک کې دی. د دې وخت لپاره قیمت د دواړو نرخونو لپاره€ 18 دی.

ث- له ګراف څخه لوسل کیږي، چې د $K_B(x)$ غوڅټکی د $F(x)$ سره هغه ټکی په نخښه کوي، له کوم چې فلیټ ریټ نسبت نرخ B ته مساعد دی.

$$K_B(x) = F(x) \Leftrightarrow 0,24x + 5,2 = 25 \mid -5,2$$
$$\Leftrightarrow 0,24x = 19,8 \mid : 0,24$$
$$\Leftrightarrow x = x_2 = 82,5$$

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ساعته د میاشتي د صرف له وخت څخه دي سړی فلیټ ریټ ته بدل کړي.

څلورم: الف- yمحور د یورو xمحور په دقیقو

لوګر: 30 دقیقي 10,10 یورو علي 40 دقیقي 10,80 یورو

60 min 13,70 €

$K_1(x) = a_1x + a_0$

$P_1(30\,|\,10,1)\quad P_2(60\,|\,13,7)$

$a_1 = \frac{y_2 - y_1}{x_2 - x_1} = \frac{13,7 - 10,1}{60 - 30} = \frac{3,6}{30} = 0,12$

$K_1(x) = 0,12x + a_0$ mit $P_1(30\,|\,10,1)$

$K_1(30) = 10,1 \Leftrightarrow 0,12 \cdot 30 + a_0 = 10,1$

$\Leftrightarrow 3,6 + a_0 = 10,1\,|\,-3,6$

$\Leftrightarrow a_0 = 6,5$

$K_1(x) = 0,12x + 6,5$

80 min 15,20 €

$K_2(x) = a_1x + a_0$

$P_1(40\,|\,10,8)\quad P_2(80\,|\,15,2)$

$a_1 = \frac{y_2 - y_1}{x_2 - x_1} = \frac{15,2 - 10,8}{80 - 40} = \frac{4,4}{40} = 0,11$

$K_2(x) = 0,11x + a_0$ mit $P_1(40\,|\,10,8)$

$K_2(40) = 10,8 \Leftrightarrow 0,11 \cdot 40 + a_0 = 10,8$

$\Leftrightarrow 4,4 + a_0 = 10,8\,|\,-4,4$

$\Leftrightarrow a_0 = 6,4$

$K_2(x) = 0,11x + 6,4$

ب- ولاړ: قیمت په یورو. پروت: وخت په دقیقو



(c) ketabton.com: The Digital Library

پ- علي ارزان قرارداد لري، ځکه چې د قیمت کږه یا منحني $K_2(x)$ د لوګر د کږې څخه لاندې لور ته پرته ده.

دواړه کربنې هم د x په مثبت یا زیاتیزه ساحه کې نه سره غوڅوي ، ځکه چې د $K_2(x)$ جګوالی د $K_1(x)$ له جګوالي کم دی او د خبرو زیاتوالي سره د قیمت توپیر لوییږي.

د کربنو غوڅتکی د x په کمیزه یا منفي ساحه کې پروت دی او نسبت پوښتنې کولو ته کومه معنا یا مفهوم نه لري.

پنځم: الف- تاریف د نرخ په معنا دی.

Tarif I :	Tarif II :
$K_1(x) = 0,157x + 11,80$	$K_2(x) = 0,172x + 9,00$

Tarif III :	Tarif IV :
$K_3(x) = 0,135x + 14,40$	$K_4(x) = 0,125x + 18,50$



(c) ketabton.com: The Digital Library

ب-

$$\text{Tarif I}: \quad K_1(800) = 0,157 \cdot 800 + 11,80 = \underline{\underline{137,40}}$$

$$\text{Tarif II}: \quad K_2(800) = 0,172 \cdot 800 + 9,00 = \underline{\underline{146,60}}$$

$$\text{Tarif III}: \quad K_3(800) = 0,135 \cdot 800 + 14,40 = \underline{\underline{122,40}}$$

$$\text{Tarif IV}: \quad K_4(800) = 0,125 \cdot 800 + 18,50 = \underline{\underline{118,50}}$$

د میاشتې د 800 kWh لګښت سره نرخ IV خورا مساعد دی.

پ- هرچیرته چې دوه ګرافونه غوڅوي هلته د ټاکلي لګښت د نرخبرابروالی منځ ت ه راځي

شپږم:

$f(x) = 0,4x - 2$ د ۴ یوونونو یا واحدونو په شاو خوا راکښنه

$$g(x) = 0,4(x-4) - 2 = \underline{\underline{0,4x - 3,6}}$$

برابره نتیجه د 1,6په شاوخوا کښته لور ته راکښنې له لارې لاس ته راځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

2.5-ټولګه:

کربنيزې توابع

د کربنې عمومي مساوات.

$f(x) = a_1x + a_0$ ا د کربنيزې تابع ګراف يوه کربنه ده.

محورغوڅتکي: $y_s = f(0) \Rightarrow P_y(0 \mid y_s)$

$f(x) = 0 \Rightarrow P_x(x_s \mid 0)$ د xs سره د صفرځای په حيث

<u>وګورئ</u>

د جګوالي درېګوډی يا مثلث

په پروت اړخ: مخامخ اړخ= جګوالی

(c) ketabton.com: The Digital Library

$$\text{Steigung} = \frac{\text{Gegenkathete}}{\text{Ankathete}}$$





په کين مثلث کې:په پروت اړخ|مخامخ اړخ=جګوالی

هم وکورئ:

د يوې کرښې جګوالی چې له ټکو $P_1\,(x_1 \mid y_1)$ او $P_2\,(x_2 \mid y_2)$ تيريږي.

$$a_1 = \frac{y_2 - y_1}{x_2 - x_1} = \frac{f(x_2) - f(x_1)}{x_2 - x_1} = \tan(\alpha)$$

تابع د روکړشوو شرايطو سره .

لومړی حالت: يوه کرښه د a_1 جګوالي سره له ټکي $P_1(x_1 \mid y_1)$ تيريږي

تولیز حل	بیلګه:
$P_1(x_1 \mid y_1) \Rightarrow f(x_1) = y_1$ $\Leftrightarrow a_1 \cdot x_1 + a_0 = y_1 \mid -a_1 \cdot x_1$ $\Leftrightarrow a_0 = y_1 - a_1 \cdot x_1$ $\Rightarrow f(x) = a_1 \cdot x + y_1 - a_1 \cdot x_1$ $= a_1 \cdot x - a_1 \cdot x_1 + y_1$	جګوالی $a_1 = 1,5$ ټکی $P_1(-2 \mid 3)$ وتونمساوات: $f(x) = a_1 x + a_0$ جګوالی کيږدئ: $f(x) = 1,5 \cdot x + a_0$ د a_0 ارزښت د شميرلو دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

$= a_1(x - x_1) + y_1$ د ټکي-جګوالي بڼه $f(x) = a_1(x - x_1) + y_1$	ټکی ازمایښت د $P_1(-2 \mid 3)$ لپاره. $f(-2) = 3 \Leftrightarrow 1{,}5 \cdot (-2) + a_0 = 3$ $\Leftrightarrow -3 + a_0 = 3 \mid +3$ $\Leftrightarrow a_0 = 6$ $\Rightarrow f(x) = 1{,}5 \cdot x + 6$

د هم وګورئ.

دویم حالت: دوه ټکي $P_1(x_1 \mid y_1)$ او $P_2(x_2 \mid y_2)$ په یوه کرښه پراته دي.

بیلګه:

$P_1(-3 \mid -1)$ $P_2(4 \mid 6)$ وتونمساوات: $P_1(-3 \mid -1)$ $P_2(4 \mid 6)$

دجګوالي ټاکنه: $f(x) = a_1 x + a_0$

جګوالی کیږدئ $f(x) = 1 \cdot x + a_0$ او د ټکي ازمایښت د $P_2(4 \mid 6)$ او یا د P_1 لپاره

$P_2(4 \mid 6) \Rightarrow f(4) = 6 \Leftrightarrow 1 \cdot 4 + a_0 = 6 \mid -4 \Leftrightarrow a_0 = 2 \Rightarrow f(x) = x + 2$

یا د کرښیزمساوات ټولیزه بڼه د دوه ټکو له لارې و کاروئ

$$f(x) = \frac{y_2 - y_1}{x_2 - x_1}(x - x_1) + y_1$$

دا هم وګورئ

د کرښیزمساوات ځانګړی حالت.

په واټن a_0 د x محور ته غبرګ: د y محور ته غبرګ په واټن a .

(c) ketabton.com: The Digital Library

$x = a$	$f(x) = a_0$

دا هم وګورئ.

د دوه کرښو پروټځای نسبت یو بل ته.

دوه کرښې f او g کیدی شي یو بل سره غوڅې کړي، یو بل سره غبرګې یا کټمټ وي.

د حل ایښونه د توابعمساواتو د برابرایښوونې f(x) = g(x)له لارې.

که f(x) = g(x) ټیک یو حل ولري، نو د f اوg ګرافونه سره په یوه ټکي کې غوڅوي.
کرښې مختلف جګوالي لري.

که f(x) = g(x) کوم حل ونه لري، نو دواړه کرښې ګډ ټکی نه لري. دوی یو له بل سره غبرګې ځغلي

که f(x) = g(x) ناپای ډیر حلونه ولري، نو دواړه کرښې سره کټمټ دي.
اوتوګونالي کرښې (دوه کرښې یو په بل عمود(ولاړې) ولاړې دي).



د دوه یو په بل ولاړو عمود(ولاړو)

کرښو g او h لپاره باور لري:

$$a_{1g} \cdot a_{1h} = -1$$

همدلسې

$$a_{1g} = -\frac{1}{a_{1h}}$$

یا

$$a_{1h} = -\frac{1}{a_{1g}}$$

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوښتنې

کربنیز توابع برخه VIII

لومړی: یوه کربنشه K_f د هغه د مساوات له لارې ورکړ شوې ده.تابع مساوات $f(x) = a_1x + a_0$ یې ولیکی او د هر ګراف په یوه مناسب کووردینات سیستم کې وکاږئ.

الف ـ $K_f : 2x - 3y = 7$ ب ـ $K_f : 3y - 4x - 1 = 0$ پ ـ $K_f : y - 95x = 0$

ت ـ $K_f : \frac{x}{2} + \frac{y}{3} = 1$ ټ ـ $K_f : -\frac{x}{3} + \frac{y}{5} = 1$ ث ـ $K_f : y = \sqrt{3}(x - 2)$

دویم: کربنیز تابع $f(x)$ د $f(x) = 1,25x + 1,5 \quad x \in \mathbb{R}$. سره ورکړ شوی دی.

الف- د تابع ارزښتونه وشمیرئ: $f(0); f(-1,5); f(0,7); f(\pi); f\left(\frac{\pi}{2}\right); f(u)$

ب: تابع په کوم ځا ی کې ارزښت 5- لري؟

پ- د کوم افقي قیمت لپاره ارزښتونه مثبت(زاتیز) دي؟

ت- وښایئ،چې $f(u+2)-f(u)$ له u خپلواک دی.

دریم: د لاندې کربنزو مساواتو محورغوځټکي وټاکئ او په یوه کواوردیناتسیستم کې یې ګرافونه رسم کړئ.

الف ـ $f(x) = -\frac{3}{2}x + 4$ ب ـ $f(x) = -4x - 3,5$ پ ـ $f(x) = \frac{3}{7}x - 3$

ت ـ $f(x) = \frac{x}{6} + \frac{5}{6}$ ټ ـ $f(x) = 2(x + 1,25)$ ث ـ $f(x) = -\frac{8}{3}x + \frac{5}{4}$

(c) ketabton.com: The Digital Library

څلورم: د غبرګو مساوات و کربنې د $g(x) = -2x+4$ سره د ټکي $P(-3|1)$ له لارې وټاکئ.

پنځم: کربنه د تابع مساوات $f(x) = 1,5x$ سره په کواوردیناتسیستم کې رسم کړئ. بې له نورو مرستندویو موادو دا لاندې کربنې هم ور رسم کړئ.

$$g(x) = 1,5(x-2) \;;\; h(x) = 1,5x-2 \;;\; i(x) = 1,5(-x) \;;\; j(x) = 1,5(2x)$$

شپږم: فیرما "Big Beauty" د شونډورنګ "Amore"تولیدوي. دا په تولید کې منځ ته راغلي لګښتونه د د تولید شوو دانوتعداد پع واک کې یا تابع دي. د $x = 100$ دانو په تولید سره € 385 لګښت منځ ته راځي، د $x = 200$ دانو په تولید سره € 410 لګښت منځ ته راځي. د دانوتعداد او د منځ ته راغلو لګښتونو ترمنځ یوه کربنیزه اړیکه شتون لري.

الف- د لګښت تابع ولیکئ.
ب- د $x = 140$ دانو تولید سره د دانې لګښت څومره دی
پ- د خورا زیاتو دانو تولید سره د دانې لګښت د کوم ارزشت لور ته هڅیږي؟
ت- په کوم ډېرئ یا ستx سره د ګټې ساحه پرته، که د هر شونډو رنګ خرڅلاو قیمت € 5,20 لاس ته راوړل شي؟

ټ- د $K(x)$ (دلګښت تابع) او $E(x)$ (د خرڅلاو تابع) ګرافونه په یوه کواوردیناتسیستم کې وکاږئ.

اوم: کوم مساوات په کومهکربنه اړه لري؟ خپله پریکړه په دلیل ړدانه کړئ. $g_1: \quad f(x) = -4x+3$ $g_2: \quad 5y-2x+15 = 0$ $g_3: \quad f(x) = x-3$ $g_4: \quad f(x) = 0,5x+3$	

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځوابونه

کربنیز توابع VIII

مفصل حلونه

لومړی:

$K_f : 2x - 3y = 7$ $\Rightarrow f(x) = \frac{2}{3}x - \frac{7}{3}$	
$K_f : 3y - 4x - 1 = 0$ $\Rightarrow f(x) = \frac{4}{3}x + \frac{1}{3}$	
$K_f : y - 95x = 0$ $\Rightarrow f(x) = 95x$	

(c) ketabton.com: The Digital Library

$K_f : \frac{x}{2}+\frac{y}{3}=1$ $\Rightarrow f(x)=-\frac{3}{2}x+3$	f(x)  x
$K_f : -\frac{x}{3}+\frac{y}{5}=1$ $\Rightarrow f(x)=\frac{5}{3}x+5$ دلته	f(x)  x
$K_f : y=\sqrt{3}(x-2)$ $\Rightarrow f(x)=\sqrt{3}x-2\sqrt{3}$	f(x)  x

(c) ketabton.com: The Digital Library

دویم:

الف- نتیجې په دري ځایونو راټوأ شوې دي: $f(x) = 1,25x + 1,5$

$f(0) = 1,25 \cdot 0 + 1,5 = 1,5$ $\quad f(-1,5) = 1,25 \cdot (-1,5) + 1,5 = -0,375$

$f(0,7) = 1,25 \cdot 0,7 + 1,5 = 2,375$ $\quad f(\pi) = 1,25 \cdot \pi + 1,5 = 5,427$

$f\left(\frac{\pi}{2}\right) = 1,25 \cdot \frac{\pi}{2} + 1,5 = 3,463$ $\quad f(u) = 1,25u + 1,5$

ب-

$$f(x) = 1,25x + 1,5 = -5 \Rightarrow 1,25x + 1,5 = -5 \Rightarrow x = -5,2$$

$f(x) = -5$ für $x = -5,2$

پ –

$$f(x) = 1,25x + 1,5 > 0$$
$$\Rightarrow 1,25x + 1,5 > 0 \mid -1,5$$
$$\Leftrightarrow 1,25x > -1,5 \mid : 1,25$$
$$\Leftrightarrow x > -1,2$$

$f(x) > 0$ für $x > -1,2$

ت -

$$f(u+2) = 1,25(u+2) + 1,5 = 1,25u + 2,5 + 1,5$$
$$f(u) = 1,25u + 1,5$$
$$f(u+2) - f(u) = 1,25u + 2,5 + 1,5 - 1,25u - 1,5 = 2,5$$

له u خپلواک دی.

دریم:

(c) ketabton.com: The Digital Library

$$f(x)=-\frac{3}{2}x+4$$
$$f(0)=4$$
$$\Rightarrow \underline{\underline{P_y(0\mid 4)}}$$
$$f(x_s)=-\frac{3}{2}x_s+4=0$$
$$\Rightarrow x_s=\frac{8}{3}$$
$$\Rightarrow \underline{\underline{P_x\left(\frac{8}{3}\mid 0\right)}}$$



$$f(x)=-4x-3{,}5$$
$$f(0)=-3{,}5$$
$$\Rightarrow \underline{\underline{P_y(0\mid -3{,}5)}}$$
$$f(x_s)=-4x-3{,}5=0$$
$$\Rightarrow x_s=-\frac{7}{8}$$
$$\Rightarrow \underline{\underline{P_x\left(-\frac{7}{8}\mid 0\right)}}$$



$$f(x)=\frac{3}{7}x-3$$
$$f(0)=-3$$
$$\Rightarrow \underline{\underline{P_y(0\mid -3)}}$$
$$f(x_s)=\frac{3}{7}x-3=0$$
$$\Rightarrow x_s=7$$
$$\Rightarrow \underline{\underline{P_x(7\mid 0)}}$$



(c) ketabton.com: The Digital Library

---

f(x)



x

$$f(x)=\frac{x}{6}+\frac{5}{6}$$

$$f(0)=\frac{5}{6}$$

$$\Rightarrow \underline{\underline{P_y\left(0\,|\,\frac{5}{6}\right)}}$$

$$f(x_s)=\frac{x}{6}+\frac{5}{6}=0$$

$$\Rightarrow x_s=-5$$

$$\Rightarrow \underline{\underline{P_x(-5\,|\,0)}}$$

f(x)



x

$$f(x)=2(x+1{,}25)=2x+2{,}5$$

$$f(0)=2{,}5$$

$$\Rightarrow \underline{\underline{P_y(0\,|\,2{,}5)}}$$

$$f(x_s)=2x+2{,}5=0$$

$$\Rightarrow x_s=-\frac{5}{4}$$

$$\Rightarrow \underline{\underline{P_x\left(-\frac{5}{4}\,|\,0\right)}}$$

$$f(x)=-\frac{8}{3}x+\frac{5}{4}$$

$$f(0)=\frac{5}{4}$$

$$\Rightarrow \underline{\underline{P_y\left(0\,|\,\frac{5}{4}\right)}}$$

$$f(x_s)=-\frac{8}{3}x+\frac{5}{4}=0$$

f(x)



x

(c) ketabton.com: The Digital Library

$\Rightarrow x_s = \frac{15}{32}$ $\Rightarrow P_x\left(\frac{15}{32}\mid 0\right)$	

څلورم:

g(x) = -2x+4 غبرګه h(x)له P(-3|1) څخه تییږي.

غبرګه همغه یا برابر جګوالی لري.

h(x) = -2x+a0

$$P(-3\mid 1):\quad h(-3) = -2\cdot(-3) + a_0 = 1 \Rightarrow a_0 = -5 \Rightarrow h(x) = -2x - 5$$

پنځم:

f(x) = 1,5x g(x)=1,5(x-2) په 2 بنې لورته کښونه h(x)=1,5x-2 په 2 کښته لور ته کښونهi(x)=1,5(-x)=-x په y -محور هدنارونه j(x)=1,5(2x)=3x ډبل جګوالی	

شپږم:

(c) ketabton.com: The Digital Library

الف- $P_1(100\mid 385);\ P_2(200\mid 410)$ ، قیمتتابع: $K(x)=a_1x+a_0$

$$a_1=\frac{y_2-y_1}{x_2-x_1}=\frac{410-385}{200-100}=0,25\Rightarrow K(x)=0,25x+a_0$$

$$P_1(100\mid 385):\quad K(100)=0,25\cdot 100+a_0=385\Rightarrow a_0=360$$

له دې څخه لاس ته قیمت تابع راځي: $K(x) = 0,25x+360$

ب-

د140 دانو لپاره قیمت: $K(140)=0,25.140+360=395$

د دانې قیمت= دانه/قیمت=

$$=\frac{K(x)}{x}=\frac{K(140)}{140}=\frac{395}{140}=\underline{\underline{2,82}}$$

د 140دانو تولید سره د دانې لګښت € 2,82 دی..

پ- د دانې لګښت یا قیمت= دانه/ لګښت=

$$=\frac{\text{Kosten}}{\text{Stück}}=\frac{K(x)}{x}=\frac{0,25x+360}{x}=0,25+\frac{360}{x}$$

$\frac{360}{x}$ تل کوچنی کیږي.، داسې چې د دانو د ډېرو لویو دانوګنون یا –تعداد سره ترم قیمت یا لګښت تل زیات د0,25€ ارزښت ته نږدې کیږي.

دا شمیرپوهنیز یا ریاضیکي داسې لیکل کیږي::

$$o:\ \lim_{x\to\infty}\frac{K(x)}{x}=0,25$$

(c) ketabton.com: The Digital Library

ت- ګټه ځای په ځایوالی په دې معنا، چې خرڅلاو E(x) دومره لوي دی لکه لګښت K(x)

$$E(x) = p \cdot x = 5,2x \quad K(x) = 0,25x + 360$$

$$E(x) = K(x) \Leftrightarrow 5,2x = 0,25x + 360 \Leftrightarrow x = \frac{360}{4,95} \approx \underline{\underline{73}}$$

د 73 دانو ډېرې یا ستې د شوندې پنسل خرڅلاو وروسته ګټه کیږي.

ټ-

اسعارواحدونه



ستې واحدونه

پروت محور: د ډېرې یا ستې یوون یا واحد. ولاړ: د پیسوواحد. په منځ کط له کښته پورته لور ټ: د تاوان ورشو یا ساحه، د برابروالي ورشو، د ګټط ورشو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوم:

$g_1 : h(x) = -4x + 3$ و $P_y(0|3)$ د او $a_1 = -4$ له امله

$g_2 : y = \frac{2}{5}x - 3$ په ګرافیک کې نه راځي

$g_3 : g(x) = x - 3$ د $P_y(0|-3)$ او $a_1 = 1$ له امله

$g_4 : f(x) = \frac{1}{2}x + 3$ د $P_y(0|3)$ او $a_1 = \frac{1}{2}$ له امله

کربنیزمساوات

برخه X

لومړی: د یوه کربنیز تابع د تابع ترم دی: $f(x) = \frac{4}{3}x - 2$

الف- ټکی A(u|-1) په ګراف پروت دی. u وټاکئ

ب – د f(x) صفرځایونه وټاکئ

پ- د x د کوم ارزښت لپاره باور لري f(x) > 1 ؟

ت -د f(x) ارزښتډېرئ یا ـسټ وټاکئ، که $D_f = \{x | 0 \le x \le 4\}_{\mathbb{R}}$ وي.

ټ- د f(x) ګراف داسې و کښئ، چې کښئول شوې کربنه د x -محور په x=-2کې غوڅه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دویم: دوه توابع f(x) اوh(x) ورکړی. د کربنیز تابع h(x)ګراف له سرچینې یا پیل څخه تیریږي.

h(x) وټاکی، که h(x)=f(0) او $f(x) = 2e^x ; x \in \mathbb{R}$ وي.

دریم: د کربنیز تابع f(x)سفرځایونه او وټاکی، که لاندې اړیکې معلومې وي:

$$f(-4) = 2$$
$$f(1) = -4$$

څلورم: وښایی:

ټکي $P_1\left(\frac{\pi}{2} \mid -1\right); P_2\left(\frac{3\pi}{2} \mid -5\right)$ او $P_3\left(-\frac{\pi}{2} \mid 3\right)$ په یوه کربنه پراته دي.

پنځم: کربنه g داسې راکاښل کیږي، چې راکښلې کربنه h له ټکي P څخه تیریږي. د h مساوات یا برابرون وټاکی.

$$g(x) = -0,25x + 1 \qquad P(3 \mid 4)$$

شپږم: د د کومو ارزښتونو لپاره کربنه په ټکو $P_1(0 \mid 1,5k)$ او $P_2\left(\sqrt{3k} \mid 2k\right)$ کې جګوالی $a_1 = 1'$ لري؟

اوم: حل کړی:

الف- f(x) = 0,5x-3. د f(x)>o لپاره د x -ارزښتونه وټاکی

ب- g(x) = 1,25x ; f(x) = 0,5x-3 . غوڅټکی وئټاکی.

اتم: په یوه زخیره ټانک کې 9500 لیvته اوبه پرتې یا خوندي دي. هره وځ له ټانک څخه 160 لیتره اوبه وښتل کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

الف- د دې (شي) حالت لپاره تابعمساوات ولیکی.

ب-له څومره ورځو وروسته ټانک تشیږي؟

پ- د تابع ګراف وکاږی.

نهم: یو بایلسکلځغاستی A په یوه وختځغاسته کې دچټکتیا منځ ارزښت 25 km/h ته رسیږي.

بایسکلځغاستیB 20 دقیقې د A څخه وروسته خوزي او یو منځنی چټکتیا 45 km/h ته رسیږي.

چیرته او کله بایسکلځغاتی B وA ته رسیږي؟ یوه سکیڅي چمتو کړی.

ځوابونه:

نتیجې او مفصل ځوابونه

نتیجې :

لومړی:

الف- $u = \frac{3}{4}$ ب - $P_x\left(\frac{3}{2}\middle|0\right)$ پ - $f(x) > 1 \text{ für } x > \frac{9}{4}$

ت - $W_f = \left\{y \mid -2 \le y \le \frac{10}{3}\right\}_{\mathbb{R}}$ ټ - $g(x) = \frac{4}{3}x + \frac{8}{3}$

دویم:

$$h(x) = 2x$$

(c) ketabton.com: The Digital Library

دریم: $f(x)=-\frac{6}{5}x-\frac{14}{5}$ $P_x\left(-\frac{7}{3}\mid 0\right)$

څلورم: له P1 اوP2 څخه لرویا تري لاس ته راځي $f(x)=-\frac{4}{\pi}x+1$

د $P_3\left(-\frac{\pi}{2}\mid 3\right)$ لپاره ټکی ازمایښت راکوي، P3په f(x) پرته.ه د

پنځم:: $h(x)=-0,25x+4,75$

شپږم: $k=12$

اوم: الف - $S(-4\mid -5)$ ب - $f(x)>0 \text{ für } x>6$

اتم: الف - $f(x)=-160x+9500$

ب – ټانک له څه نا څه ۵۹،۴ ورځو وروسته تش دی.

ت – ګراف د مفل څواب سره کښل شوی دی.

نهم: بایسکلځغاستی A له بایسکلځغاستي B څخه د45 دقیقو وروسته نیول کیږي. نو 25 B دقیقي په لار وو. دواړو ځغاستو یوه د 18,75 km لار وهلي ده.

مفصل ځوابونه:

$$f(x)=\frac{4}{3}x-2 \quad A(u\mid -1):\quad f(u)=\frac{4}{3}u-2=-1$$

$$\Rightarrow \frac{4}{3}u-2=-1\mid +2 \Leftrightarrow \frac{4}{3}u=1\mid :\frac{4}{3} \Leftrightarrow \underline{\underline{u=\frac{3}{4}}}$$

لومړی: الف -

(c) ketabton.com: The Digital Library

ب –

$$f(x_s)=\frac{4}{3}x_s-2=0 \qquad \Rightarrow \frac{4}{3}x_s-2=0 \Rightarrow x_s=\frac{3}{2} \Rightarrow \underline{\underline{P_x\left(\frac{3}{2}\mid 0\right)}}$$

پ –

$$f(x)=\frac{4}{3}x-2>1 \qquad \Rightarrow \frac{4}{3}x-2>1 \Rightarrow x>\frac{9}{4} \qquad \underline{\underline{f(x)>1 \text{ für } x>\frac{9}{4}}}$$

ت –

$$f(x)=\frac{4}{3}x-2 \quad D_f=\{x\mid 0\le x\le 4\}_{\mathbb{R}}$$

$$f(0)=-2 \quad f(4)=\frac{4}{3}\cdot 4-2=\frac{10}{3} \Rightarrow \underline{\underline{W_f=\left\{y\mid -2\le y\le \frac{10}{3}\right\}_{\mathbb{R}}}}$$

ټ –

	د xs=-2 د g(x) صفرځای دي وي، نو $P_x(-2\mid 0)$ جګيدنه ساتلې پاتيږي $g(x)=\frac{4}{3}x+a_0$ $\Rightarrow g(x_s)=g(-2)=\frac{4}{3}(-2)+a_0=0$ $\Rightarrow a_0=\frac{8}{3} \Rightarrow \underline{\underline{g(x)=\frac{4}{3}x+\frac{8}{3}}}$ په 14/3 پورته لور ته راکښنه يا په 3,5 کيڼ لور ته راکښنه

$$f(x)=2e^x \quad h(x)=a_1x$$

$$h(1)=f(0) \Rightarrow a_1=2e^0=2\cdot 1=2 \Rightarrow a_1=2$$

$$\Rightarrow \underline{\underline{h(x)=2x}}$$

دويم:

$$f(-4)=2 \Rightarrow P_1(-4\mid 2);\ f(1)=-4 \Rightarrow P_2(1\mid -4)$$

$$\Rightarrow a_1=\frac{y_2-y_1}{x_2-x_1}=\frac{-4-2}{1-(-4)}=-\frac{6}{5} \Rightarrow f(x)=-\frac{6}{5}x+a_0$$

دريم:

(c) ketabton.com: The Digital Library

$$P_2(1|-4):\quad f(1)=-\frac{6}{5}\cdot 1+a_0=-4\Rightarrow a_0=-\frac{14}{5}\Rightarrow f(x)=-\frac{6}{5}x-\frac{14}{5}$$

$$f(x)=0\Leftrightarrow -\frac{6}{5}x-\frac{14}{5}=0\,|\cdot 5\Leftrightarrow -6x-14=0\Rightarrow x=-\frac{7}{3}\Rightarrow \underline{\underline{P_x\left(-\frac{7}{3}|0\right)}}$$

څلورم: د المانط پښتو له پورته کښته لور ته: د... لپاره ضرب، په پروت دی.

$$P_1\left(\frac{\pi}{2}|-1\right);P_2\left(\frac{3\pi}{2}|-5\right);P_3\left(-\frac{\pi}{2}|3\right);f(x)=a_1x+a_0$$

$$\Rightarrow a_1=\frac{y_2-y_1}{x_2-x_1}=\frac{-5-(-1)}{\frac{3\pi}{2}-\frac{\pi}{2}}=-\frac{4}{\pi}\Rightarrow f(x)=-\frac{4}{\pi}x+a_0$$

$$P_1\left(\frac{\pi}{2}|-1\right):\quad f\left(\frac{\pi}{2}\right)=-\frac{4}{\pi}\cdot\frac{\pi}{2}+a_0=-1\Rightarrow a_0=1\Rightarrow f(x)=-\frac{4}{\pi}x+1$$

د $P_3\left(-\frac{\pi}{2}|3\right)$ لپاره ټکی ازمایښت:

$$f\left(-\frac{\pi}{2}\right)=-\frac{4}{\pi}\cdot\left(-\frac{\pi}{2}\right)+1=2+1=3\Rightarrow \underline{\underline{P_3\left(-\frac{\pi}{2}|3\right)}}$$

په $f(x)$ پروت دی.

پنځم: $g(x)=-0,25x+1$ $h(x)$ له $P(3|4)$ څخه تیریږي.

د $h(x)$ راکښل کربنې لپاره جګیدنه برابره پاتې کیږي.

$$\Rightarrow h(x)=-0,25x+a_0$$

$$P(3|4):\quad h(3)=-0,25\cdot 3+a_0=4\Rightarrow a_0=4,75\Rightarrow \underline{\underline{h(x)=-0,25x+4,75}}$$

$$P_1(0|1,5k);P_2\left(\sqrt{3k}|2k\right);a_1=1$$

$$a_1=\frac{y_2-y_1}{x_2-x_1}=\frac{2k-1,5k}{\sqrt{3k}-0}=\frac{0,5k}{\sqrt{3k}}=1$$

$$\Leftrightarrow 0,5k=\sqrt{3k}\Leftrightarrow 0,25k^2=3k\Leftrightarrow 0,25k=3\Leftrightarrow \underline{\underline{k=12}}$$

شپږم:

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوم: الف ــ $f(x)=\frac{1}{2}x-3 \quad f(x)>0$

$\Rightarrow \frac{1}{2}x-3>0 \Leftrightarrow x>6$ نو $f(x)>0$ د $x>6$لپاره

ب ـ $f(x)=\frac{1}{2}x-3\,;\,g(x)=\frac{5}{4}x$

د غوڅتکي لپاره شرطونه: $g(x_s)=f(x_s)$

$$\Rightarrow \frac{5}{4}x_s=\frac{1}{2}x_s-3 \Leftrightarrow x_s=-4$$

$$y_s=g(x_s)=g(-4)=\frac{5}{4}\cdot(-4)=-5 \Rightarrow \underline{\underline{S(-4\,|\,-5)}}$$

اتم: الف- x =ورځې: f(x) = د ټانک خوندیونه

$$\Rightarrow f(x)=-160x+9500$$

ب = ایښوونه: $f(x)=0 \Leftrightarrow -160x+9500=0 \Leftrightarrow x=\frac{9500}{160}\approx 59{,}4$

ټانک له 59,4ورځو څخه وروسته تش دی.

ت ـ

(c) ketabton.com: The Digital Library

نهم:



بايسکل ځغلونکی A له ۴۵ دقيقو تلني وروسته له بايسکل ځغلونکي B څخه رانيول کيږي.

بايسکل ځغلونکی B بيا له ۲۵ دقيقو په لار وو. دواړو ځغلونکو يوه د ۱۸،۷۵ کيلو متره لار وهلي .

$$A:\quad s_A = v_A \cdot t$$

$$B:\quad s_B = v_B (t - 20)$$

B لهA څخه 20 دقيقي وروسته په خوزښت پيل کوي

د دواړو کرښو غوڅتکی نتيجه راکوي:

$$s_B = s_A \Leftrightarrow v_B (t - 20) = v_A t$$

له t ساعته وروسته

$$\Rightarrow t = \frac{20\, v_B}{v_B - v_A}$$

که سزعت يا چټکتيا په km/min واړول شي، سړی کړی شي په شميرلو کي په واحد سرف نظر وکړي.

$$v_A = 25\,\frac{km}{h} = \frac{25}{60}\,\frac{km}{min} = \frac{5}{12}\,\frac{km}{min}$$

$$v_B = 45\,\frac{km}{h} = \frac{45}{60}\,\frac{km}{min} = \frac{9}{12}\,\frac{km}{min}$$

$$t = \frac{20 \cdot \frac{9}{12}}{\frac{9}{12} - \frac{5}{12}} = \underline{\underline{45}}\ (min)$$

$$s_A = \frac{5}{12} \cdot 45 = \underline{\underline{18,75}}\ (km)$$

(c) ketabton.com: The Digital Library

2.6 مربع توابع

2 . 6.1 څلوری- یا مربع توابعو ته ننوتنه یا پیل

ننوتنه یا پیل

هرڅوک چې موټر زده کوي، باید پوه وي، چې د بریک په وخت کې په پاخه سرک د بریک نیولو او د موټر دریدځای ترمنځ څنګه سره یوځای کیدی شي یا جمعه کیدی شي..

د لاندې موټر قانون سره سم له چټکتیا(سرعت) v په km/h (کیلومتر په ساعت) د عکس العمل لار r د بریک لار b په متر شمیرلکیدی شي.

پام (خبرداری) : د بیلګې په توګه د المان پخوانی او له څخه نوي قانون.

له څخه د تملار په وچ اسفالت شوي سرک د پل بریکلار سره شمیرل کیږي.

د بریک لار $b = \left(\frac{v}{10}\right)^2$ د عکس العمل لار $r = \frac{v}{10} \cdot 3$

(c) ketabton.com: The Digital Library

یادونه: د څه وخت را په دې خوا په جرمني کې د بریکلار لپاره دا فرمول باور لري.:

نوی: $b = \frac{1}{2} \cdot \left(\frac{v}{10}\right)^2$

د بریک همدا ډول د عکس العمل لار په متر (m) راوځي، که چټکتیا یا سرعت په کیلومتر په ساعت (km/h)وي.

الف – د دواړو حالتونو لپاره د $s = f(v)$ تابع مساوات و ټاکی ، د کوم لپاره چې په هره تللې چټکتیا یا سرعت تملار شمیرل کیدی شي.

ب - د تابع مشاوات $s = f(v)$ د دواړو حالتونو لپاره د وهل شوی سرعت $v = 0,$ 10, 20, 30, ... 100 km/h سره د ه یوه د توقف لار چې شمیرل کیږي.

پ : په کواوردیناتسیستم کې یا د وضعیه قیمتسیستم کې ګراف رسم کړی.

ت: ټوله لاس ته راوړې نتیجه تشریح کړی.

Problemlösung: د پرابلم حل:

الف: د تابع مساوات:

د سکالار ضرب دیستریبوتیو قانون	$\vec{a}\cdot(\vec{b}+\vec{c})=\vec{a}\cdot\vec{b}+\vec{a}\cdot\vec{c}$
ګډوله اسوځایاتیو قانون	$(k\vec{a})\cdot\vec{b}=k(\vec{a}\cdot\vec{b})$
د وکتور (مطلق) ارزښت	$\vec{a}\cdot\vec{a}=\vec{a}^2=\lvert a\rvert^2=a^2$

نو سړی د اویکلید یا اقلیدس فضا څخه غږیږي یا دا د اقلیدس فضا بولو.

یادونه:

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوه وکتور ته نسبت سکالار ضرب ته معکوس یا په څټ توکی نه شته. دا په دې معنا، چې سړی د وکتور سره وېشنه نه شي کولی.
د وکتورونو نسبت سکالار ضرب ته نا پیلی توکی نه شته، حکه چې نتیجه یو حقیقي عدد دی او وکتور نه دی.

وکتوري ضرب

د وکتوري ضرب پیژند یا تعریف:
که یو هوکتور د یوه عدد سره ضرب شي، نو نتیجه بیرته یو وکتور دی. د ضرب دا ډول S –ضرب بلل کیږي.
که یو وکتور د یوه وکتور سره ضرب شي، نو نتیجه یې یو عدد دی، داسې په نامه سکالار ډول ضرب.
برسیره له دې د وکتورونو ضربډول شته، د کومو سره چې ضرب بیرته وکتور دیول وکتور ضرب یا وکتوري ضرب بلل کیږي، کله کله اټیران ضرب یا صلیبي ضرب(زه صلیبیي ضرب ته اټیران ضرب وایم اټران د لوبو هغه څیره ده، چې دوه کرښې سره په کې پریکوي).
پخوا له دې چې مور د دې ضرب ځانونه په کار اچوو یا مشغولوو، باید روښانه شي، چې دا ډول ضرب څنګه تعریف دی.

پیژند(تعریف):
د دوه وکتورونو $\vec{a}$ او $\vec{b}$ د ضرب لاندې یو وکتور $\vec{a}\times\vec{b}$ پوهیږو، چې د لاندې خویونو سره خویز کرکتري شوی دی:
لومړی: $\vec{a}\times\vec{b}$ په $\vec{a}$ او $\vec{b}$ نیغ ولاړ دی یعنې قایم دی.
دویم: $\vec{a}$ ، $\vec{b}$ او $\vec{a}\times\vec{b}$ په دې ترتیب یو ښی سیستم جوړوي.
دریم: $\left|\vec{a}\times\vec{b}\right| = \left|\vec{a}\right|\cdot\left|\vec{b}\right|\cdot\sin\left(\vec{a},\vec{b}\right)$ چیرته چې $0 \le \sphericalangle\left(\vec{a},\vec{b}\right) \le \pi$.
له پورته تعریف څخه سیده لرو:
د ده وکتورونو وکتوري ضرب ارزښت صفر لري، که لږ تر لږه له دواړو وکتورونو یو صفر وکتور وي یا دواړه وکتورونه غبرګ یا موازي وي.
معکوس یا په څټ هم باور لري:
که د دوه وکتورونو ضرب له کومو، چې یو یې هم صفروکتور نه وي، نو دا غبرګ دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د تعریف د دریم شرط څخه لاس ته راځي، چې هلته خپل لوي ارزښت لري، که له هغوی رابند کونج 90 درجې وي.

ترڅنګ ولاره څیره دې وکتوري ضرب ګرافیکي روښانه کړي.

$\vec{a}\times\vec{b}$ یو وکتوري ضرب دی، کوم چې په $\vec{a}$ او $\vec{b}$ نیغ ولاړ یا قایم دی، داسې چې: $\vec{a}$ ، $\vec{b}$ او $\vec{a}\times\vec{b}$ یو ښی سیستم جوړوي.



د دې ارزښت له دې دواړو وکتورونو غزیدلې غبرګ اړخیز یا موازی الاضلاع سطحې خوندیونه ده.

ښی سیستم په دې معنا دی:
که لومړی وکتور د ساعت څرخوني(لړمک ورته وایي که څنګه؟) په موخه د دویم وکتور په لور وڅرخیږي، نو دا دریم داسې څرخي لکه یو پیچي میخ په ښئ اوړېدنې سره د مخ لور ته.
د وکتوري ضرب بونو لپاره ښی سیستم.

جمله :

د هر $\{k\}\in\mathbb{R}$ عدد او $\{\vec{a};\vec{b};\vec{c}\}\in V^3$ د وکتور په حیث لپاره باور لري:

الترناتیو قانون $\vec{a}\times\vec{b}=-(\vec{b}\times\vec{a})$

دیستریبوتیو قانون $\vec{a}\times(\vec{b}+\vec{c})=\vec{a}\times\vec{b}+\vec{a}\times\vec{c}$

$(k\vec{a})\times\vec{b}=k(\vec{a}\times\vec{b})$

ګډوله اسوځیاتیو قانون

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دي شمیر قانون لپاره د استعمال لپاره جمله:

بیلګه۱:

وشمیرئ: $\left(\vec{u}+\vec{v}\right)\times\left(\vec{u}+\vec{v}\right)$

حل یا اوبي:

$$\left(\vec{u}+\vec{v}\right)\times\left(\vec{u}+\vec{v}\right)=\vec{u}\times\vec{u}+\vec{u}\times\vec{v}+\vec{v}\times\vec{u}+\vec{v}\times\vec{v}$$

$$=\vec{0}-\left(\vec{v}\times\vec{u}\right)+\left(\vec{v}\times\vec{u}\right)+\vec{0}=\underline{\underline{\vec{0}}}$$

د دي لپاره وکارول شو $\vec{u}\times\vec{u}=\vec{v}\times\vec{v}=\vec{0}$ او $\vec{u}\times\vec{v}=-\left(\vec{v}\times\vec{u}\right)$.

بیلګه ۲ : ددوه وکتورونو ترمنځ کونج فورمال وشمیرئ

وشمیرئ: $\tan\left(\vec{a},\vec{b}\right)$

حل:

$$\left|\vec{a}\times\vec{b}\right|=a\cdot b\cdot\sin\left(\vec{a},\vec{b}\right)\Leftrightarrow\sin\left(\vec{a},\vec{b}\right)=\frac{\left|\vec{a}\times\vec{b}\right|}{a\cdot b}$$

$$\vec{a}\cdot\vec{b}=a\cdot b\cdot\cos\left(\vec{a},\vec{b}\right)\Leftrightarrow\cos\left(\vec{a},\vec{b}\right)=\frac{\vec{a}\cdot\vec{b}}{a\cdot b}$$

$$\tan\left(\vec{a},\vec{b}\right)=\frac{\sin\left(\vec{a},\vec{b}\right)}{\cos\left(\vec{a},\vec{b}\right)}=\frac{\left|\vec{a}\times\vec{b}\right|}{a\cdot b}:\frac{\vec{a}\cdot\vec{b}}{a\cdot b}=\frac{a\cdot b\cdot\left|\vec{a}\times\vec{b}\right|}{a\cdot b\cdot\vec{a}\cdot\vec{b}}=\underline{\underline{\frac{\left|\vec{a}\times\vec{b}\right|}{\vec{a}\cdot\vec{b}}}}$$

بیلګه ۳ :

ددوه وکتورونو ترمنځ کونج فورمال وشمیرئ

وشمیرئ: $\tan\left(\vec{a},\vec{b}\right)$

حل یا اوبي:

$$\left|\vec{a}\times\vec{b}\right|=a\cdot b\cdot\sin\left(\vec{a},\vec{b}\right)\Leftrightarrow\sin\left(\vec{a},\vec{b}\right)=\frac{\left|\vec{a}\times\vec{b}\right|}{a\cdot b}$$

$$\vec{a}\cdot\vec{b}=a\cdot b\cdot\cos\left(\vec{a},\vec{b}\right)\Leftrightarrow\cos\left(\vec{a},\vec{b}\right)=\frac{\vec{a}\cdot\vec{b}}{a\cdot b}$$

(c) ketabton.com: The Digital Library

$$\tan\left(\vec{a},\vec{b}\right)=\frac{\sin\left(\vec{a},\vec{b}\right)}{\cos\left(\vec{a},\vec{b}\right)}=\frac{\left|\vec{a}\times\vec{b}\right|}{a\cdot b}:\frac{\vec{a}\cdot\vec{b}}{a\cdot b}=\frac{a\cdot b\cdot\left|\vec{a}\times\vec{b}\right|}{a\cdot b\cdot\vec{a}\cdot\vec{b}}=\frac{\left|\vec{a}\times\vec{b}\right|}{\vec{a}\cdot\vec{b}}$$

د وکتورونو برخ انځورونه(کمپوننتي انځورونه)

د وکتورونو برخ انځورونه(کمپوننتي انځورونه)
شمیرنه کې تر اوسه تنها یا ځانله د برخلرونکو وکتورونو یو بل ته ترتیب یا نظم لور لوباوه. د دې سره د وکتورونو فضایي ځای غوره نه وو.

دا پای لاس ته راوړنې ته اجازه ورکوي، چې وکتورشمیرنه د کواوردینات- یا پروتولاړسیستم څخه خپلواک دی. د ټاکلو پرابلمونو لپاره دابیاهم ډېر ګټور دی، که سړی د وکتور انځورونې لپاره یو پروتولاړ-یا کواوردینات سیستم په بنسټ کې کیښولی شي یا ولري.
د پسې شمیرنو لپاره کارتیزي پروتولاړ- یا کارتیزي کواوردینات سیستم پهبنسټ کې ایښولکیږي. دا درې یو په بل ولاړ یا قایم محورونه دي، چې په ترتیب د x_1, x_2 او x_3 سره په نخښه کیږي.
یادونه: د x_1, x_2 او x_3 لپاره یا پرځای کیدی شي دا د x, y او y محورونه هم وبلل شي، مګر د n بعدي یا n پراخیدوني وکتورونو لپاره به دا انځورونه په کمه کچه مناسب وي.
د کارتیزي کواوردیناتسیستم لپاره لاندې دوه انځورونې، لکه په عمل کې چې ډېر کار تري اخستل کیږي.



د x_2او x_3 محورونه په رسمسطحه



د x_1 اوx_3 محورونه په رسمسطحه کې پرتې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې پراته دي. مثبت x_1 محوردمخ لور ته ښايي.	مثبت x_2محور د شالور ته ښايي

وکتور $\vec{a}$ په يوه فضايي کارتيزي کواوردیناتسيتم کې ا نځوريږي. دا د کواوردیناتونو محور کمپوننتونو سره غبرګ توټه کيږي.

$$\vec{a} = \vec{a_1} + \vec{a_2} + \vec{a_3}$$

هره د دې درې کواوردیناتونو کیدی شي ځان د همغه اړونده واحد وکتور څو ځله انځور کړي:

$$\vec{a} = a_1\vec{e_1} + a_2\vec{e_2} + a_3\vec{e_3}$$

درې سکالار a_1 , a_2 او a_3 هغه چې د کواوردینات په لور د وکتورونو اوږدوالی ورکوي، د وکتور کواوردینات په نوم بلل کيږي.



بيلګه ۱

وکتور $\vec{a} = 5\vec{e_1} + 3\vec{e_2} + 2,5\vec{e_3}$

دې په فضايي کارتيزي کواوردیناتسيستمکې رسم شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دې لپاره چې وکتورونه انځور کړای شو، د هغه پیل ټکی په د کواوردینات په پیل ټکي کې ایښول کیږي.وکتور بیا له یوه کمپوننت څخه د وکتور جمعې قا نون له مخې سره یوځای کیږي. په دې بیلګه کي دا رسم شوی وکتور د P په ټکي کې پای مومي، چې کواوردیناتونه (5, 2| 3 |5)P یې لري



بیلګه ښایي:

هغه وکتور، چې په درې بعدي- یا پراخیدونې فضا کې له کواوردینات پیل څخه راوځي، هلته په یوه ټکي کې پای مومي. همداسې هر ټکي په درې بعدې فضا کې د خپلو کواوردیناتونو له لارې یواځنی ټاکلی، دا کیدی شي د وکتورونو له لارې هم پیښه شي، چې د کواوردینات له پیله مو دې ټکي ته لارښودوي یا بیایي. داسې وکتورونه سړي ځای وکتورونه بولي.

ځای وکتور $\vec{r} = 5\vec{e_1} + 3\vec{e_2} + 2,5\vec{e_3}$ په ټکي $P(5|3|2,5)$ کې پای کیږي

تولیز باور لري: $\vec{r} = x_1\vec{e_1} + x_2\vec{e_2} + x_3\vec{e_3}$ په ټکي $P(x_1|x_2|x_3)$ کې پیا کیږي.

دا چې په درې بعدي فضا کې د وکتور لویوالی او لور د کواوردینات د ورکړې سره یواځنی ټاکلی دی، سړی کړی شي د وکتور په لیکلو کې د واحدوکتور په ور کړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

صرف نظر وکړي. یو وکتور کیدی د دې نیونو یافرضیو لاندې ځان د درځ یا متې متریکی په توګه هم ولیکي.

د کمپوننت انځورونه او کواوردینات انځورونه دوه مختلفي مګر برابر ارزښته لیکنډولونه دي. یو وکتور چې ټکي P ته مو بیایي، لکه چې تري لاس ته راځي ا نځوریږي: $\vec{r} = \begin{pmatrix} x_1 \\ x_2 \\ x_3 \end{pmatrix}$ په $P(x_1 \mid x_2 \mid x_3)$ تنظیم دی.	المانې له کینې ښي لورته: کمپوننتونو انځورونه، کواوردیناتونو انځورونه $\underbrace{\vec{a} = a_1\vec{e_1} + a_2\vec{e_2} + a_3\vec{e_3}}_{\text{Komponentendarstellung}} \Leftrightarrow \underbrace{\vec{a} = \begin{pmatrix} a_1 \\ a_2 \\ a_3 \end{pmatrix}}_{\text{Koordinatendarstellung}}$ $\vec{a} = 5\vec{e_1} + 3\vec{e_2} + 2{,}5\vec{e_3} \Leftrightarrow \vec{a} = \begin{pmatrix} 5 \\ 3 \\ 2{,}5 \end{pmatrix}$ ځانګړی:

په پام ډې ونیول شي، چې ځایوکتور، ې له ټرلو وکتورونو په حیث د کواوردینات یا پروتولاړ سیستم له سرچینې څخه یوه ټکي ته لاړښودوي یا بیایي، هغو ازادو وکتورونو سره، چې په یوه فضا کې غبرګ راکښل کیږي بدل نه شي.

بیلګه ۲
یو سترګی یا مکعب دې د ۸ سطحې واحدونو یا یوونونو سره داسې په یوه کارتیزي (دیسکارتي) کواوردیناتسیستم کې ر سم شي، چې یو ګوډ یا کونج یې د کواوردینات په سرچینه کې پروت وي. د دې مکعب(سترګی، چې موږ ورته دانه وایو) ټولو ګوډونو یا کونجونو کې دې ځایوکتورونه وکښل شي. ځایوکتورونه دې په کواوردینات سیستم کې ورکړل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ځایوکتورونو لپاره باور لري:

$$\vec{a}=\begin{pmatrix}0\\0\\0\end{pmatrix} \quad \vec{b}=\begin{pmatrix}0\\8\\0\end{pmatrix} \quad \vec{c}=\begin{pmatrix}8\\8\\0\end{pmatrix} \quad \vec{d}=\begin{pmatrix}8\\0\\0\end{pmatrix}$$

$$\vec{e}=\begin{pmatrix}0\\0\\8\end{pmatrix} \quad \vec{f}=\begin{pmatrix}0\\8\\8\end{pmatrix} \quad \vec{g}=\begin{pmatrix}8\\8\\8\end{pmatrix} \quad \vec{h}=\begin{pmatrix}8\\0\\8\end{pmatrix}$$

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا پورته انځورونه له ډېرو څخه یوه ده. دا مکعب یه لومړئ اتمه (1. Oktanten) کې پروت دی. یوه بله انځورونه کیدی شي په کووردیناتسیستم یا پروتولاړ سیستم کې صورت ونیسي(ځان جوړ کړي)، په کوم کې چې د x_1-محور د شا ته په لور ښایي. د هرګړډ-یا کونجټکو د په نخښه کونې ا و د دوي د ترتیبوني وروسته کیدی شي وکتورونه بل ډول نخښه ونه ونیول شي او هم نور کواوردیناتونه ولري.

د وکتورونو ارزښت او لوریز کوساین

دیوه وکتور ارزښت
د یوه وکتور ارزښت دې وشمیرل شي، که دا په کمپننت ډوله یا کواوردینات ډوله ورکړ شوی وي



تر څنګ انځورونه را اخلو، نو پیژنوو چې وکتور

$$\vec{a} = \vec{a_1} + \vec{a_2} + \vec{a_3} = a_1\vec{e_1} + a_2\vec{e_2} + a_3\vec{e_3} =$$

د یوه کوادر لوریزې فضا دوه کونټرې(قطر) ده، چې د ژیو اوږدوالی یې $a_1, a_2,$ او a_3 دي.
دوکتور ارزښت له دې امله د فضا دوه کونټرې سره سر خوري. د پیتاګوراس له جملې سره سم د وکتور د ارزښت لپاره لاس ته راځي:

$$\vec{a} = a_1\vec{e_1} + a_2\vec{e_2} + a_3\vec{e_3}$$

Betrag: $\left|\vec{a}\right| = a = \sqrt{a_1^2 + a_2^2 + a_3^2}$

(c) ketabton.com: The Digital Library



د یویه وکتور د لور کوساین(لنډ: لورکوساین)
په فضا کې د یوه په کمپوننتونو همداسې کواوردیناتونو بنه ورکړشوي وکتور د لور ټاکنه بنایي، چې سړی کونج کاروي یا استعمالوي، کوم چې دا وکتور یې د یوون-یا واحد وکتور سره جوړوي.



کونج، چې د فضا دوه کونجټرې (قطر که وتر؟)همداسې د دوه کونجټرې
یا قطروکتور یې د x_1 محور سره او له دې سره د واحدوکتور سره هم جوړوي، په یوه درېګوډي یامثلث کې پروت دی، کوم چې د فضا قطر (دوه کوجټرې)،د کوادر د بنې اړخ سطحه لکه څنګه د قطر یا دوه کونجټرې وکتور x_1کمپوننتونه یا اجزاوې
یې چې جوړیدی شي.

$$\cos(\alpha) = \frac{a_1}{|\vec{a}|} = \frac{x_1}{|\vec{a}|}$$

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورته نخښوني د نورو دواړو کونجونو لپاره هم لاس ته راوړو، داسې چې سړی لیکلی شي:

$$\cos(\alpha)=\frac{a_1}{|\vec{a}|}=\frac{x_1}{|\vec{a}|},\qquad \cos(\beta)=\frac{a_2}{|\vec{a}|}=\frac{x_2}{|\vec{a}|},\qquad \cos(\gamma)=\frac{a_3}{|\vec{a}|}=\frac{x_3}{|\vec{a}|}$$

د دري کونجونو د کوساین د تابع ارزښت د وکتور د لورکوساین بلل کیږي.

د لور کوساین دجمعې لپاره باور لري:

$$\cos^2(\alpha)+\cos^2(\beta)+\cos^2(\gamma)=1$$

داپهدې معنا: د لور کوساین مربع جمعه(څلورئ زیاتون) تل ۱ دی.

دا اړوندوالی کیدی شي د یوې ساده شمیرنې له لارئ وښوول شي:

$$\cos^2(\alpha)+\cos^2(\beta)+\cos^2(\gamma)=\frac{a_1^2}{|\vec{a}|^2}+\frac{a_2^2}{|\vec{a}|^2}+\frac{a_3^2}{|\vec{a}|^2}$$
$$=\frac{a_1^2+a_2^2+a_3^2}{|\vec{a}|^2}$$

د $|\vec{a}|^2=\left(\sqrt{a_1^2+a_2^2+a_3^2}\right)^2=a_1^2+a_2^2+a_3^2$ سره تري لرو

$$=\frac{a_1^2+a_2^2+a_3^2}{a_1^2+a_2^2+a_3^2}=1$$

له $\cos(\alpha)=\frac{a_1}{|\vec{a}|},\qquad \cos(\beta)=\frac{a_2}{|\vec{a}|},\qquad \cos(\gamma)=\frac{a_3}{|\vec{a}|}$ څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library

د وکتور $\vec{a}$ کواوردینات لپاره لاس ته راځي:

$$a_1 = \left|\vec{a}\right|\cos(\alpha), \qquad a_2 = \left|\vec{a}\right|\cos(\beta), \qquad a_3 = \left|\vec{a}\right|\cos(\gamma)$$

اوس له دې سره شونی دی چې یو وکتور د هغه د تاکونکو لویو ارزښت او لور سره ولیکو:

$$\vec{a} = a_1\vec{e_1} + a_2\vec{e_2} + a_3\vec{e_3} = \left|\vec{a}\right|\cos(\alpha)\vec{e_1} + \left|\vec{a}\right|\cos(\beta)\vec{e_2} + \left|\vec{a}\right|\cos(\gamma)\vec{e_3}$$

$\left|\vec{a}\right|$ له نوکنو راوځي او دواړه اړخونه په $\left|\vec{a}\right|$ باندې وېشل کیږي

$$\Rightarrow \vec{a} = \left|\vec{a}\right|\left(\cos(\alpha)\vec{e_1} + \cos(\beta)\vec{e_2} + \cos(\gamma)\vec{e_3}\right) \mid : \left|\vec{a}\right|$$

$$\Leftrightarrow \frac{\vec{a}}{\left|\vec{a}\right|} = \vec{a_e} = \cos(\alpha)\vec{e_1} + \cos(\beta)\vec{e_2} + \cos(\gamma)\vec{e_3} = \begin{pmatrix}\cos(\alpha)\\ \cos(\beta)\\ \cos(\gamma)\end{pmatrix}$$

په پام ولره: د یوه واحدوکتور کواوردیناتونه د هغه د لور کوساین دی

$$\vec{a_e} = \cos(\alpha)\vec{e_1} + \cos(\beta)\vec{e_2} + \cos(\gamma)\vec{e_3} = \begin{pmatrix}\cos(\alpha)\\ \cos(\beta)\\ \cos(\gamma)\end{pmatrix} \text{ mit } \left|\vec{a_e}\right| = 1$$

د شمیرنې بیلګې

بیلګه ۱ :

د لاندې وکتورونو لپاره دې ارزښتونه اد لورکوساین وشمیرل شي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

الف- $\vec{a} = 4\overrightarrow{e_1} + 3\overrightarrow{e_2} + 2\overrightarrow{e_3} = \begin{pmatrix} 4 \\ 3 \\ 2 \end{pmatrix}$

ب –

$$\vec{b} = 2\overrightarrow{e_1} - 3\overrightarrow{e_2} - 1\overrightarrow{e_3} = \begin{pmatrix} 2 \\ -3 \\ -1 \end{pmatrix}$$

نتیجې له لسمیز (عشاریه) څخه وروسته د درې ځایونو په تیکوالي سره ورکړئ.

حل: لومړی-

(مطلق) ارزښت: لورکوساین:

$$\left|\vec{a}\right| = a = \sqrt{a_1^2 + a_2^2 + a_3^2}$$
$$= \sqrt{4^2 + 3^2 + 2^2}$$
$$= \sqrt{16 + 9 + 4}$$
$$= \underline{\underline{\sqrt{29} \approx 5,385}}$$

$$\cos(\alpha) = \frac{a_1}{\left|\vec{a}\right|} = \frac{a_1}{a} = \frac{4}{\sqrt{29}} \approx 0,743 \Rightarrow \underline{\underline{\alpha \approx 42,031^0}}$$

$$\cos(\beta) = \frac{a_2}{\left|\vec{a}\right|} = \frac{a_2}{a} = \frac{3}{\sqrt{29}} \approx 0,557 \Rightarrow \underline{\underline{\beta \approx 56,145^0}}$$

$$\cos(\gamma) = \frac{a_3}{\left|\vec{a}\right|} = \frac{a_3}{a} = \frac{2}{\sqrt{29}} \approx 0,317 \Rightarrow \underline{\underline{\gamma \approx 68,199^0}}$$

وکتور د نږدې
5,385 LE

(LE د اوږدوالي
واحد)اوږدوالی لري

د ب حل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

ارزښت: لورکوساین:

$$\cos(\alpha) = \frac{b_1}{|\vec{b}|} = \frac{b_1}{b} = \frac{2}{\sqrt{14}} \approx 0,535 \Rightarrow \underline{\underline{\alpha \approx 57,688^0}}$$

$$\cos(\beta) = \frac{b_2}{|b|} = \frac{b_2}{b} = \frac{-3}{\sqrt{14}} \approx -0,802 \Rightarrow \underline{\underline{\beta \approx 143,301^0}}$$

$$\cos(\gamma) = \frac{b_3}{|\vec{b}|} = \frac{b_3}{b} = \frac{-1}{\sqrt{14}} \approx -0,267 \Rightarrow \underline{\underline{\gamma \approx 105,501^0}}$$

$$|\vec{b}| = b = \sqrt{b_1^2 + b_2^2 + b_3^2}$$
$$= \sqrt{2^2 + (-3)^2 + (-1)^2}$$
$$= \sqrt{4 + 9 + 1}$$
$$= \underline{\underline{\sqrt{14} \approx 3,742}}$$

وکتور د نږدې 3,742
LE

(LE د اوږدوالي
واحد)اوږدوالی

لري

یادونه: که د یوه کونج کوساین کمیز یا منفي وي، نو د کونج ارزښتونه د 90^0 او 180^0 ترمنځ پراته دي.

بیلګه ۲: د ځا ی وکتور، چې اوږدوا لی یې ۲ دی، غواړو پیدا کړو، چې د x_1 محور سره 60^0کونج، دx_2 محور سره 135^0کونج جوړوي او د x_3 محور سره یو تیره کونج (حاده زاویه؟؟) جوړوي.

حل: ځا وکتور $\vec{r}$ د اوږدوالي 2 په دې معنا دی، چې $|\vec{r}| = 2$

$$\alpha = 60^0 \Rightarrow \cos(\alpha) = \cos\left(60^0\right) = \frac{1}{2}\ , \qquad \beta = 135^0 \Rightarrow \cos(\beta) = \cos\left(135^0\right) =$$

$$) = -\frac{1}{2}\sqrt{2}$$

(c) ketabton.com: The Digital Library

$$\cos^2(\alpha)+\cos^2(\beta)+\cos^2(\gamma)=1 \Leftrightarrow \cos(\gamma)=\pm\sqrt{1-\cos^2(\alpha)-\cos^2(\beta)}$$

$$\Leftrightarrow \cos(\gamma)=\pm\sqrt{1-\left(\frac{1}{2}\right)^2-\left(-\frac{1}{2}\sqrt{2}\right)^2}=\pm\sqrt{1-\frac{1}{4}-\frac{1}{2}}=\pm\sqrt{\frac{1}{4}}=\pm\frac{1}{2}$$

دا چې γ دې تيره کونج وي ، باور لري: $\cos(\gamma)=\frac{1}{2}\Rightarrow\gamma=60^0$

يوونوکتور يا واحد وکتور دی: $\vec{e_r}=\cos(\alpha)\vec{e_1}+\cos(\beta)\vec{e_2}+\cos(\gamma)\vec{e_3}$

$$=\cos(60^0)\vec{e_1}+\cos(135^0)\vec{e_2}+\cos(60^0)\vec{e_3}=\frac{1}{2}\vec{e_1}-\frac{1}{2}\sqrt{2}\vec{e_2}+\frac{1}{2}\vec{e_3}$$

او دا وکتور پخپله: $\vec{r}=|\vec{r}|\vec{e_r}=2\left(\frac{1}{2}\vec{e_1}-\frac{1}{2}\sqrt{2}\vec{e_2}+\frac{1}{2}\vec{e_3}\right)$

$$\Leftrightarrow \vec{r}=\vec{e_1}-\sqrt{2}\vec{e_2}+\vec{e_3}$$

تولګه:

د وکتورونو لپاره شمیرقوانین په کواوردیناتي انځورونو کې.

وکتورونه سره زياتيږي يا جمعه کيږي همداسې کميږي يا منفي کيږي، که اړونده کمپوننتونه سره جمعه يا سره منفي شي.

$$\vec{a}=a_1\vec{e_1}+a_2\vec{e_2}+a_3\vec{e_3}=\begin{pmatrix}a_1\\a_2\\a_3\end{pmatrix},\ \vec{b}=b_1\vec{e_1}+b_2\vec{e_2}+b_3\vec{e_3}=\begin{pmatrix}b_1\\b_2\\b_3\end{pmatrix}$$

(c) ketabton.com: The Digital Library

$$\vec{a} \pm \vec{b} = (a_1 \pm b_1)\overrightarrow{e_1} + (a_2 \pm b_2)\overrightarrow{e_2} + (a_3 \pm b_3)\overrightarrow{e_3} = \begin{pmatrix} a_1 \pm b_1 \\ a_2 \pm b_2 \\ a_3 \pm b_3 \end{pmatrix}$$

د یوه وکتور ضرب د یوه سکالار سره

د یوه وکتور ضرب د یوه سکالار سره، د وکتور تو ل کمپوننتونه د سکالار سره ضربیږي.

$$\vec{a} = a_1\overrightarrow{e_1} + a_2\overrightarrow{e_2} + a_3\overrightarrow{e_3} = \begin{pmatrix} a_1 \\ a_2 \\ a_3 \end{pmatrix}$$

$$\Rightarrow u\cdot\vec{a} = ua_1\overrightarrow{e_1} + ua_2\overrightarrow{e_2} + ua_3\overrightarrow{e_3} = u\cdot\begin{pmatrix} a_1 \\ a_2 \\ a_3 \end{pmatrix} = \begin{pmatrix} u\cdot a_1 \\ u\cdot a_2 \\ u\cdot a_3 \end{pmatrix}$$

بیلګه

درې وکتورونه ورکړ شوي دي:

$$\vec{a} = \begin{pmatrix} 3 \\ -2 \\ 1 \end{pmatrix}, \qquad \vec{b} = \begin{pmatrix} 4 \\ -1 \\ 3 \end{pmatrix}, \qquad \vec{c} = \begin{pmatrix} -1 \\ 2 \\ 4 \end{pmatrix}$$

لاندې وکتور وشمیرئ

(c) ketabton.com: The Digital Library

$$\vec{d} = \overrightarrow{3a} - 2\vec{b} + \overrightarrow{4c}$$

$$\vec{d} = 3\cdot\begin{pmatrix}3\\2\\1\end{pmatrix} - 2\cdot\begin{pmatrix}4\\-1\\3\end{pmatrix} + 4\cdot\begin{pmatrix}-1\\2\\4\end{pmatrix} = \begin{pmatrix}9\\6\\3\end{pmatrix} - \begin{pmatrix}8\\-2\\6\end{pmatrix} + \begin{pmatrix}-4\\8\\16\end{pmatrix} = \begin{pmatrix}9-8-4\\6+2+8\\3-6+16\end{pmatrix} = \underline{\underline{\begin{pmatrix}-3\\16\\13\end{pmatrix}}}$$

بیلګه: په دوه پراخیدوني- یا بعدي فضا کې دې د دوه ټکو P_1 او P_2 واټن وټاکل شي.



ټکو ته د ځای وکتورونه دي:

$$P_1(x_{11}\,|\,x_{12}\,|\,x_{13}) \Rightarrow r_1 = \begin{pmatrix}x_{11}\\x_{12}\\x_{13}\end{pmatrix}$$

$$P_2(x_{21}\,|\,x_{22}\,|\,x_{23}) \Rightarrow r_2 = \begin{pmatrix}x_{21}\\x_{22}\\x_{23}\end{pmatrix}$$

د دواړو ټکو ترمنځ وکتور دې s وي.

$$\vec{r_1} + \vec{s} = \vec{r_2}\,|-\vec{r_1} \Leftrightarrow \vec{s} = \vec{r_2} - \vec{r_1} = \begin{pmatrix}x_{21}-x_{11}\\x_{22}-x_{12}\\x_{23}-x_{13}\end{pmatrix}$$

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دواړو ټکو ترمنځ وکتور ارزښت یو د بل څخه واټن یه ګوته کوي او دا په دري بعدي (دري پراخیدوني) فضا کې.

Wegen $|\vec{a}| = a = \sqrt{a_1^2 + a_2^2 + a_3^2}$ gilt:

$$|\vec{s}| = s = \sqrt{(x_{21} - x_{11})^2 + (x_{22} - x_{12})^2 + (x_{23} - x_{13})^2} = \overline{P_1P_2}$$

یادونه: د کواوردیناتو په ایندکس یا پیژندنخښهباندې x_{ij} سمبالولو سره دا لومړی ایندکی د ټکي P_i لپاره ولاړ دی او دویم ایندکس د کواوردینات محور لپاره

سکالار ضرب

دوه لاندې وکتورونه دې ورکړ شویوي

$$\vec{b} = b_1\vec{e_1} + b_2\vec{e_2} + b_3\vec{e_3} = \begin{pmatrix} b_1 \\ b_2 \\ b_3 \end{pmatrix} \quad \text{او} \quad \vec{a} = a_1\vec{e_1} + a_2\vec{e_2} + a_3\vec{e_3} = \begin{pmatrix} a_1 \\ a_2 \\ a_3 \end{pmatrix}$$

دا یو د بل سره فورما ضربیږي:

$$\begin{aligned} \vec{a}\cdot\vec{b} &= \left(a_1\vec{e_1} + a_2\vec{e_2} + a_3\vec{e_3}\right)\cdot\left(b_1\vec{e_1} + b_2\vec{e_2} + b_3\vec{e_3}\right) \\ &= a_1b_1\vec{e_1}\cdot\vec{e_1} + a_1b_2\vec{e_1}\cdot\vec{e_2} + a_1b_3\vec{e_1}\cdot\vec{e_3} \\ &+ a_2b_1\vec{e_2}\cdot\vec{e_1} + a_2b_2\vec{e_2}\cdot\vec{e_2} + a_2b_3\vec{e_2}\cdot\vec{e_3} \\ &+ a_3b_1\vec{e_3}\cdot\vec{e_1} + a_3b_2\vec{e_3}\cdot\vec{e_2} + a_3b_3\vec{e_3}\cdot\vec{e_3} \end{aligned}$$

په پام کې دي وي، چې د دوه یو په بل عمود ولاړو وکتورونو سکالار ضرب صفر دی او د یوه یوون-یا واحد وکتور تربع ۱ دی،پورته ولاړه وینا ډېره ساده کوي.

$$\vec{e_1}\cdot\vec{e_2} = |\vec{e_1}|\cdot|\vec{e_2}|\cdot\cos\left(\vec{e_1},\vec{e_2}\right) = 1\cdot1\cdot\cos\left(90^0\right) = 1\cdot1\cdot0 = 0 \text{ da } \vec{e_1} \perp \vec{e_2}$$

$$\Rightarrow \boxed{\vec{e_1}\cdot\vec{e_2} = \vec{e_2}\cdot\vec{e_1} = 0 \qquad \vec{e_1}\cdot\vec{e_3} = \vec{e_3}\cdot\vec{e_1} = 0 \qquad \vec{e_2}\cdot\vec{e_3} = \vec{e_3}\cdot\vec{e_2} = 0}$$

$$\vec{e_1}\cdot\vec{e_1} = |\vec{e_1}|\cdot|\vec{e_1}|\cdot\cos\left(\vec{e_1},\vec{e_1}\right) = 1\cdot1\cdot\cos\left(0^0\right) = 1\cdot1\cdot1 = 1 \text{ da } \vec{e_1} \text{ parallel zu } \vec{e_1}$$

$$\Rightarrow \boxed{\vec{e_1}\cdot\vec{e_1} = 1 \qquad \vec{e_2}\cdot\vec{e_2} = 1 \qquad \vec{e_3}\cdot\vec{e_3} = 1}$$

(c) ketabton.com: The Digital Library

له دې سره کیږي:

$$\boxed{\vec{a}\cdot\vec{b} = a_1 b_1 + a_2 b_2 + a_3 b_3}$$

سکالار ضرب هم کیدی شي ددرځ- یا متې یا ستن - یا ولاړ وکتورونو سره سرته ورسول شي.

$$\vec{b} = \begin{pmatrix} b_1 \\ b_2 \\ b_3 \end{pmatrix} \qquad \vec{a} = \begin{pmatrix} a_1 \\ a_2 \\ a_3 \end{pmatrix} = (a_1 \mid a_2 \mid a_3)^T$$

او

$$\vec{a}\cdot\vec{b} = (a_1 \mid a_2 \mid a_3)^T \cdot \begin{pmatrix} b_1 \\ b_2 \\ b_3 \end{pmatrix} = a_1 b_1 + a_2 b_2 + a_3 b_3$$

بیلګه۱ :

دواړه وکتورونه یو د بل سره کوم کونج جوړوي؟

$$\vec{a} = \begin{pmatrix} 3 \\ -2 \\ 1 \end{pmatrix}, \qquad \vec{b} = \begin{pmatrix} 4 \\ -1 \\ 3 \end{pmatrix}$$

$$\vec{a}\cdot\vec{b} = |\vec{a}|\cdot|\vec{b}|\cdot\cos(\vec{a},\vec{b}) \Leftrightarrow \cos(\vec{a},\vec{b}) = \frac{\vec{a}\cdot\vec{b}}{|\vec{a}|\cdot|\vec{b}|}$$

$$\vec{a}\cdot\vec{b} = (3 \mid -2 \mid 1)^T \cdot \begin{pmatrix} 4 \\ -1 \\ 3 \end{pmatrix} = 12 + 2 + 3 = 17$$

(c) ketabton.com: The Digital Library

$$\left|\vec{a}\right| = \sqrt{\vec{a}\cdot\vec{a}} = \sqrt{a_1^2 + a_2^2 + a_3^2} = \sqrt{9+4+1} = \sqrt{14} \approx 3{,}742$$

$$\left|\vec{b}\right| = \sqrt{\vec{b}\cdot\vec{b}} = \sqrt{b_1^2 + b_2^2 + b_3^2} = \sqrt{16+1+9} = \sqrt{26} \approx 5{,}099$$

$$\cos(\alpha) = \cos\left(\vec{a},\vec{b}\right) = \frac{17}{\sqrt{14}\cdot\sqrt{26}} \approx 0{,}891 \Rightarrow \underline{\underline{\alpha \approx 26{,}996^0}}$$

وکتوري ضرب

لکه د سکالار ضرب لومړی فورمال ضر بیږي. له د ې وروسته ساده کیږي. د دې لپاره دي د سلیب یا ا ټیران ضرب قوانین بیا وکتل شي.

باور لري:

$\vec{a}\times\vec{b}$ په $\vec{a}$ او $\vec{b}$ او $\vec{a}\times\vec{b} = -\left(\vec{b}\times\vec{a}\right)$ نیغ ولاړ یا قایم دی

$\vec{a},\vec{b}$ ا او $\vec{a}\times\vec{b}$ په دې لړئ پرلپسې یو ښی سیسیتم

$\left|\vec{a}\times\vec{b}\right| = \left|\vec{a}\right|\cdot\left|\vec{b}\right|\cdot\sin\left(\vec{a},\vec{b}\right)$ چیرته چې $0 \le \sphericalangle\left(\vec{a},\vec{b}\right) \le \pi.$ دی

د کارتیزي کواوردیناتسیستم وکتورونو لپاره په ځانګړې توګه باور ري:

$$\left|e_1\times e_1\right| = \left|e_1\right|\cdot\left|e_1\right|\cdot\sin\left(e_1,e_1\right) = 1\cdot1\cdot\sin\left(0^0\right) = 1\cdot1\cdot0 = 0$$

$$\Rightarrow \boxed{\overrightarrow{e_1}\times\overrightarrow{e_1} = \vec{0} \qquad \overrightarrow{e_2}\times\overrightarrow{e_2} = \vec{0} \qquad \overrightarrow{e_3}\times\overrightarrow{e_3} = \vec{0}}$$

$$\left|e_1\times e_2\right| = \left|e_1\right|\cdot\left|e_2\right|\cdot\sin\left(e_1,e_2\right) = 1\cdot1\cdot\sin\left(90^0\right) = 1\cdot1\cdot1 = 1$$

$$\Rightarrow \overrightarrow{e_1}\times\overrightarrow{e_2} = \overrightarrow{e_3}$$

دا چې $\overrightarrow{e_1} \perp \overrightarrow{e_3}$ ا او $\overrightarrow{e_2}$ (یعنې $\overrightarrow{e_3}$ ا په $\overrightarrow{e_1}$ او $\overrightarrow{e_2}$ عمود یا ولاړ) دی اوو ارزښت ۱ لري.

لاندې اړیکې شتون لري:

(c) ketabton.com: The Digital Library

$\vec{e_1}\times\vec{e_2}=\vec{e_3}$	$\vec{e_2}\times\vec{e_3}=\vec{e_1}$	$\vec{e_3}\times\vec{e_1}=\vec{e_2}$
$\vec{e_2}\times\vec{e_1}=-\vec{e_3}$	$\vec{e_3}\times\vec{e_2}=-\vec{e_1}$	$\vec{e_1}\times\vec{e_3}=-\vec{e_2}$

فورمال ضرب:

$$\vec{a}\times\vec{b}=\left(a_1\vec{e_1}+a_2\vec{e_2}+a_3\vec{e_3}\right)\times\left(b_1\vec{e_1}+b_2\vec{e_2}+b_3\vec{e_3}\right)$$
$$=a_1b_1\left(\vec{e_1}\times\vec{e_1}\right)+a_1b_2\left(\vec{e_1}\times\vec{e_2}\right)+a_1b_3\left(\vec{e_1}\times\vec{e_3}\right)$$
$$+a_2b_1\left(\vec{e_2}\times\vec{e_1}\right)+a_2b_2\left(\vec{e_2}\times\vec{e_2}\right)+a_2b_3\left(\vec{e_2}\times\vec{e_3}\right)$$
$$+a_3b_1\left(\vec{e_3}\times\vec{e_1}\right)+a_3b_2\left(\vec{e_3}\times\vec{e_2}\right)+a_3b_3\left(\vec{e_3}\times\vec{e_3}\right)$$
$$=0+a_1b_2\vec{e_3}-a_1b_3\vec{e_2}-a_2b_1\vec{e_3}+0+a_2b_3\vec{e_1}+a_3b_1\vec{e_2}-a_3b_2\vec{e_1}+0$$

$$=\underline{\underline{\left(a_2b_3-a_3b_2\right)\vec{e_1}+\left(a_3b_1-a_1b_3\right)\vec{e_2}+\left(a_1b_2-a_2b_1\right)\vec{e_3}}}$$

د فرمول جوړول کیدی شي د دري لړئ ییزي دیترمینانت په څیر انځور شي. دا کیدی شي د ساروس قا نون یا لار له مخې وشمیرل شي داسې چې دا د شمیرلو فرمول راکړي. د دې لپاره چې د ساروس قا نون وکاروو، باید لومړئ او دویمه د دیترمینانتې درځونه یا متې یو بل پسې ولیکل شي. بالاخره ټول قطرونه یا دوه کونجټرې ټرنې او دا دري واره له کینې پورته لور ښې کښته خوا ته، همداسې دري ځله له کیڼ کښته خوا ته ښې پورته خوا ته.دا ډول ضربونه د جمعې په ډول سره یوځای کیږي او په حقیقت کې داسې چې ضربونه له کیڼ کښته ښی پورته کمیز یا منفي ګڼ یا شمیرل کیږي.

$$\vec{a}\times\vec{b}=\begin{vmatrix}\vec{e_1}&\vec{e_2}&\vec{e_3}\\a_1&a_2&a_3\\b_1&b_2&b_3\end{vmatrix}\Rightarrow$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$= \vec{e_1} a_2 b_3 + \vec{e_2} a_3 b_1 + \vec{e_3} a_1 b_2 - b_1 a_2 \vec{e_3} - b_2 a_3 \vec{e_1} - b_3 a_1 \vec{e_2}$$
$$= (a_2 b_3 - a_3 b_2)\vec{e_1} + (a_3 b_1 - a_1 b_3)\vec{e_2} + (a_1 b_2 - a_2 b_1)\vec{e_3}$$

وکتورونه ورکړ شوي:

د دواړو وکتورونو وکتوري ضرب دې جوړ شي.

نتیجه دې د مناسب شمیرنې سره وازمایل شي.

$$\vec{a} = \begin{pmatrix} 3 \\ -2 \\ 1 \end{pmatrix}, \qquad \vec{b} = \begin{pmatrix} 4 \\ -1 \\ 3 \end{pmatrix}$$

ازمایښت د سکالار ضرب سره سرته رسیدی شي.

د دواړو وکتورونو وکتور ضرب بیرته یووکتور دی، چې هغه هغې سطحې باندې، چې له دواړو و کتورونو غزېدلې عمود دی. د دې په تعقیب د دواړو وکتورونو سره د نتیجه وکتور سکالار ضرب ارزښت صفر ورکوي.

بیلګه: د یوه مثلث ګوټکي یا د کونجونو ټکي A, B او C لاندې کواوردیناتونه لري

د A(2 | -4 | 4); B(0 | 3 | 2) او C(-4 | -4 | 6).
مثلث سطحه دې وشمیرل شي.نتیجه دې د سطحې مثلثاتو یا درېګوډیکچ فرمول سره و ازمایل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ترمخ پام:

یو رسم دي هندسي(ځمککچیز) ا نځور وښا یي.

د دوه وکتورونو وکتوري ضرب یا x ضرب یو وکتور دی، چې هغه له دي دواړو وکتورونو غزیدلي سطحي ته عمود یا ولاړ ځغلي او د هغې د سطحي خوندیونه له دوي جوړ غبرګ اړخیز یا موازی الاضلاع ارزښت دي. د غبرګ اړخیز دوهکونجټړي یا که غواړئ قطر دا په یو بل پټیونې مساوي برخو وېشي. له دي سره د درېکوډي سطحه د وکتوري ضرب ارزښت نیمایي سره برابره ده.



ځای اړوند وکتور او د درې ګوډي یا مثلث اړخونو وکتورونه داسي لاس ته راځي:

$$\vec{r}_A = \begin{pmatrix} 2 \\ -4 \\ 4 \end{pmatrix} \qquad \vec{r}_B = \begin{pmatrix} 0 \\ 3 \\ 2 \end{pmatrix} \qquad \vec{r}_C = \begin{pmatrix} -4 \\ -4 \\ 6 \end{pmatrix}$$

$$\vec{a}: \quad \vec{r}_B + \vec{a} = \vec{r}_C \Leftrightarrow \vec{a} = \vec{r}_C - \vec{r}_B = \begin{pmatrix} -4 \\ -4 \\ 6 \end{pmatrix} - \begin{pmatrix} 0 \\ 3 \\ 2 \end{pmatrix} = \begin{pmatrix} -4-0 \\ -4-3 \\ 6-2 \end{pmatrix} = \begin{pmatrix} -4 \\ -7 \\ 4 \end{pmatrix}$$

(c) ketabton.com: The Digital Library

$$\vec{b}: \quad \vec{r_A}+\vec{b}=\vec{r_C} \Leftrightarrow \vec{b}=\vec{r_C}-\vec{r_A}=\begin{pmatrix}-4\\-4\\6\end{pmatrix}-\begin{pmatrix}2\\-4\\4\end{pmatrix}=\begin{pmatrix}-4-2\\-4+4\\6-4\end{pmatrix}=\begin{pmatrix}-6\\0\\2\end{pmatrix}$$

$$\vec{c}: \quad \vec{r_B}+\vec{c}=\vec{r_A} \Leftrightarrow \vec{c}=\vec{r_A}-\vec{r_B}=\begin{pmatrix}2\\-4\\4\end{pmatrix}-\begin{pmatrix}0\\3\\2\end{pmatrix}=\begin{pmatrix}2-0\\-4-3\\4-2\end{pmatrix}=\begin{pmatrix}2\\-7\\2\end{pmatrix}$$

د دې رسم شوي غبرک اړخيز(موازيالا ضلاع) سطحه د سکالار يا صليب يا اټيرن ضرب سره سړی لاس ته راوړي.

$$\vec{a}\times\vec{b}=\begin{vmatrix}\vec{e_1}&\vec{e_2}&\vec{e_3}\\a_1&a_2&a_3\\b_1&b_2&b_3\end{vmatrix}\Rightarrow\begin{vmatrix}\vec{e_1}&\vec{e_2}&\vec{e_3}&\vec{e_1}&\vec{e_2}\\a_1&a_2&a_3&a_1&a_2\\b_1&b_2&b_3&b_1&b_2\end{vmatrix}$$

$$=(a_2b_3-a_3b_2)\vec{e_1}+(a_3b_1-a_1b_3)\vec{e_2}+(a_1b_2-a_2b_1)\vec{e_3}$$

$$\left|\vec{a}\times\vec{b}\right|=\left|\vec{a}\right|\cdot\left|\vec{b}\right|\cdot\sin\left(\vec{a},\vec{b}\right)$$ نورپسې بارور لري:

$$\vec{a}\times\vec{c}=\begin{vmatrix}\vec{e_1}&\vec{e_2}&\vec{e_3}\\-4&-7&4\\2&-7&2\end{vmatrix}\begin{matrix}\vec{e_1}&\vec{e_2}\\-4&-7\\2&-7\end{matrix}=-14\vec{e_1}+8\vec{e_2}+28\vec{e_3}-\left(-14\vec{e_3}-28\vec{e_1}-8\vec{e_2}\right)$$

$$=-14\vec{e_1}+8\vec{e_2}+28\vec{e_3}+14\vec{e_3}+28\vec{e_1}+8\vec{e_2}$$

$$=14\vec{e_1}+16\vec{e_2}+42\vec{e_3}=\begin{pmatrix}14\\16\\42\end{pmatrix}$$

$$\left|\vec{a}\times\vec{c}\right|=\sqrt{14^2+16^2+42^2}=\sqrt{2216}\approx 47{,}074$$

$$A=\frac{\left|\vec{a}\times\vec{c}\right|}{2}=\frac{\sqrt{2216}}{2}\approx 23{,}537$$ ددرې ګوډې يا مثلث سطحه:

د نتيجې کنترول

(c) ketabton.com: The Digital Library



$A = \frac{c \cdot h_c}{2}$ د $c = |\vec{c}|$ او $a = |\vec{a}|$ سره.

h_c د β کونج د ساین سره شمیرل کیږي

$$\cos(\beta) = \frac{a \cdot c}{|\vec{a}| \cdot |\vec{c}|} \Rightarrow \beta = a\cos\left(\frac{a \cdot c}{|\vec{a}| \cdot |\vec{c}|}\right)$$

$$\sin(\beta) = \frac{h_c}{|\vec{a}|} \Leftrightarrow h_c = |\vec{a}| \cdot \sin(\beta) \Rightarrow A = \frac{|\vec{c}| \cdot |\vec{a}| \cdot \sin(\beta)}{2}$$

$$|\vec{a}| = \sqrt{16+49+16} = \sqrt{81} = 9 \qquad |\vec{c}| = \sqrt{4+49+4} = \sqrt{57}$$

$$\vec{a} \cdot \vec{c} = (-4 \mid -7 \mid 4)^T \cdot \begin{pmatrix} 2 \\ -7 \\ 2 \end{pmatrix} = -8+49+8 = 49$$

$$\cos(\beta) = \frac{49}{9 \cdot \sqrt{57}} \approx 0{,}712 \Rightarrow \beta = a\cos\left(\frac{49}{9 \cdot \sqrt{57}}\right) \approx 43{,}852^o$$

$$\sin(\beta) = \sin\left(a\cos\left(\frac{49}{9 \cdot \sqrt{57}}\right)\right) \approx 0{,}693$$

$$\Rightarrow A = \frac{\sqrt{57} \cdot 9 \cdot \sin\left(a\cos\left(\frac{49}{9 \cdot \sqrt{57}}\right)\right)}{2} \approx \underline{\underline{23{,}537}}$$

ازمایښت لومړی شمیرنه تصدیقوي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټولګه:

د وکتورونو جمعه او تفریق(زیاتون او کمون):

$$\vec{a} \pm \vec{b} = (a_1 \pm b_1)\vec{e_1} + (a_2 \pm b_2)\vec{e_2} + (a_3 \pm b_3)\vec{e_3} = \begin{pmatrix} a_1 \pm b_1 \\ a_2 \pm b_2 \\ a_3 \pm b_3 \end{pmatrix}$$

د یوه وکتور ضرب د یوه سکالار سره:

$$u\cdot\vec{a} = ua_1\vec{e_1} + ua_2\vec{e_2} + ua_3\vec{e_3} = u\cdot\begin{pmatrix} a_1 \\ a_2 \\ a_3 \end{pmatrix} = \begin{pmatrix} u\cdot a_1 \\ u\cdot a_2 \\ u\cdot a_3 \end{pmatrix}$$

سکالار ضرب:

$$\vec{a}\cdot\vec{b} = (a_1 \mid a_2 \mid a_3)^T \cdot \begin{pmatrix} b_1 \\ b_2 \\ b_3 \end{pmatrix} = a_1\cdot b_1 + a_2\cdot b_2 + a_3\cdot b_3$$

نور پسې باور لري: $\vec{a}\cdot\vec{b} = |\vec{a}|\cdot|\vec{b}|\cdot\cos(\vec{a},\vec{b})$ und $a = |\vec{a}| = \sqrt{\vec{a}\cdot\vec{a}}$

وکتوري ضرب:

$$\vec{a}\times\vec{b} = \begin{vmatrix} \vec{e_1} & \vec{e_2} & \vec{e_3} \\ a_1 & a_2 & a_3 \\ b_1 & b_2 & b_3 \end{vmatrix} \Rightarrow \begin{vmatrix} \vec{e_1} & \vec{e_2} & \vec{e_3} \\ a_1 & a_2 & a_3 \\ b_1 & b_2 & b_3 \end{vmatrix} \begin{matrix} \vec{e_1} & \vec{e_2} \\ a_1 & a_2 \\ b_1 & b_2 \end{matrix}$$

$$= (a_2b_3 - a_3b_2)\vec{e_1} + (a_3b_1 - a_1b_3)\vec{e_2} + (a_1b_2 - a_2b_1)\vec{e_3}$$

نور پسې باور لري: $|\vec{a}\times\vec{b}| = |\vec{a}|\cdot|\vec{b}|\cdot\sin(\vec{a},\vec{b})$

وکتور ضرب:

د وکتوري ضرب پیژند(تعریف):

(c) ketabton.com: The Digital Library

که یو وکتور د یوه سکالار سره ضرب شیو نو نتیجه بیرته وکتور دی. دا ډول ضرب سړی د S - ضر ب بولي. که یو وکتور د یوه وکتور سره ضرب شي، نو نتیجه یې یو عدد دی، چې سکالار نومیږي. د وکتور دا ډول ضرب سکالار ضرب بلل کیږي.
په دې برسیره یو د ضرب ډول شتون لري، د کوم نتیجه چې بیرته یو وکتور دیر د ضرب دادول وکتوري ضرب بلل کیږي،کله کله سلیبي یا اټیران ضرب بلل کیږي.

د مخه له دې چې مور د دا ډول ضرب ډول سره مشغول کړو، لومړی دې روښانه شي،چې دا ډول ضرب څنګه تعریف شوی دی.
تعریف یا پیژند: د دوهوکتورونو $\vec{a}$ او $\vec{b}$ د ضرب لاندې سړی یو وکتور $\vec{a}\times\vec{b}$ پوهیږي، کوم چې د لاندې شرایطو لاندې خوییز یا کرکتري شوی دی.

۱ . $\vec{a}\times\vec{b}$ په $\vec{a}$ او $\vec{b}$ عمود یا سیخ ولاړ دی.

۲ . $\vec{a},\vec{b}$ او $\vec{a}\times\vec{b}$ په دې لړئ پرلپسې. یو ښی سیستم جوړوي.

۳ . $\left|\vec{a}\times\vec{b}\right| = \left|\vec{a}\right|\cdot\left|\vec{b}\right|\cdot\sin\left(\vec{a},\vec{b}\right)$ چیرته چې $0 \le \sphericalangle\left(\vec{a},\vec{b}\right) \le \pi.$ دی.

په یاد ولره: د پورته پیژند څخه سیده لاس ته راځي:
د دوه وکتورونو وکتوري ضرب صفر دی، که لږ تر لږه یو له دواړو وکتورونو څخه صفر وکتور وي یا دواړه وکتورونه سره غبرګ وي.
په څټ یا معکوس هم باور لري:
که د دوه وکتورونوضرب، چې هیڅ یو یې صفر وکتور نه دي، صفر وي، نو دا سره غبرګ دي.
له دریم شرط څخه لرو، چې هلته خپل لوی ارزښت لري، چې له هغوي رابند کونج یا زاویه 90 درجې وي.
دا لاندې څیره دې وکتور ضر ب ګرافیکي روښانه کړي



(c) ketabton.com: The Digital Library

$\vec{a}\times\vec{b}$ یووکتور دی،
هغه چې په $\vec{a}$ او $\vec{b}$ نیغ ولاړ دی،
داسې چې $\vec{a},\vec{b}$ او $\vec{a}\times\vec{b}$ یو بنی سیستم جوړوي.

د دې ارزښت له دواړو وکتورونو غزېدلي موازی الاضلاغ (غبرګ اړخیزې) سطحې مساحت دی.
بنی په دې معنا، چې:
که سړی لومړی وکتور د سا عقرخونې په لور (د ساعت ستنې لور) د دویم وکتور په لور وځرخوي، نو دریم داسې خوزښت غوره کوي یا حرکت کوي لکه یو پیچتاو میخ دښي کږون سره په خپل لور د مخ خواته.

د وکتوري ضرب لپاره بنی سیستم:

جمله:
د هر عدد $\{k\}\in\mathbb{R}$ او $\{\vec{a};\vec{b};\vec{c}\}\in V^3$ لپاره د وکتور په حیث باور لري:

بدیلیدن قانون $\vec{a}\times\vec{b}=-(\vec{b}\times\vec{a})$

دیستریبوتیو قانون $\vec{a}\times(\vec{b}+\vec{c})=\vec{a}\times\vec{b}+\vec{a}\times\vec{c}$

ګډوله اسوځیاتیو قانون $(k\vec{a})\times\vec{b}=k(\vec{a}\times\vec{b})$

شمیرقوانینو استعمال ته بیلګې:

بیلګه ۱: وشمیرئ: $(\vec{u}+\vec{v})\times(\vec{u}+\vec{v})$
حل یا اوبې:

$$(\vec{u}+\vec{v})\times(\vec{u}+\vec{v})=\vec{u}\times\vec{u}+\vec{u}\times\vec{v}+\vec{v}\times\vec{u}+\vec{v}\times\vec{v}$$
$$=\vec{0}-(\vec{v}\times\vec{u})+(\vec{v}\times\vec{u})+\vec{0}=\underline{\vec{0}}$$

دلته وکارول شو: $\vec{u}\times\vec{u}=\vec{v}\times\vec{v}=\vec{0}$ und $\vec{u}\times\vec{v}=-(\vec{v}\times\vec{u})$

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیلګه ۲

د دوه وکتورونو ترمنځ کونج فورمال وشمیرئ.

وشمیرئ: $\tan\left(\vec{a},\vec{b}\right)$

حل یا اوبي یا ځواب:

$$\left|\vec{a}\times\vec{b}\right| = a\cdot b\cdot\sin\left(\vec{a},\vec{b}\right) \Leftrightarrow \sin\left(\vec{a},\vec{b}\right) = \frac{\left|\vec{a}\times\vec{b}\right|}{a\cdot b}$$

$$\vec{a}\cdot\vec{b} = a\cdot b\cdot\cos\left(\vec{a},\vec{b}\right) \Leftrightarrow \cos\left(\vec{a},\vec{b}\right) = \frac{\vec{a}\cdot\vec{b}}{a\cdot b}$$

$$\tan\left(\vec{a},\vec{b}\right) = \frac{\sin\left(\vec{a},\vec{b}\right)}{\cos\left(\vec{a},\vec{b}\right)} = \frac{\left|\vec{a}\times\vec{b}\right|}{a\cdot b} : \frac{\vec{a}\cdot\vec{b}}{a\cdot b} = \frac{a\cdot b\cdot\left|\vec{a}\times\vec{b}\right|}{a\cdot b\cdot\vec{a}\cdot\vec{b}} = \underline{\underline{\frac{\left|\vec{a}\times\vec{b}\right|}{\vec{a}\cdot\vec{b}}}}$$

بیلګه ۳

د دوه وکتورونو ترمنځ کونج فورمال وشمیرئ.

وشمیرئ: $\tan\left(\vec{a},\vec{b}\right)$

حل:

$$\left|\vec{a}\times\vec{b}\right| = a\cdot b\cdot\sin\left(\vec{a},\vec{b}\right) \Leftrightarrow \sin\left(\vec{a},\vec{b}\right) = \frac{\left|\vec{a}\times\vec{b}\right|}{a\cdot b}$$

$$\vec{a}\cdot\vec{b} = a\cdot b\cdot\cos\left(\vec{a},\vec{b}\right) \Leftrightarrow \cos\left(\vec{a},\vec{b}\right) = \frac{\vec{a}\cdot\vec{b}}{a\cdot b}$$

$$\tan\left(\vec{a},\vec{b}\right) = \frac{\sin\left(\vec{a},\vec{b}\right)}{\cos\left(\vec{a},\vec{b}\right)} = \frac{\left|\vec{a}\times\vec{b}\right|}{a\cdot b} : \frac{\vec{a}\cdot\vec{b}}{a\cdot b} = \frac{a\cdot b\cdot\left|\vec{a}\times\vec{b}\right|}{a\cdot b\cdot\vec{a}\cdot\vec{b}} = \underline{\underline{\frac{\left|\vec{a}\times\vec{b}\right|}{\vec{a}\cdot\vec{b}}}}$$

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ډاکتر ماخان شینواري چاپ شوې لیکنې:

1988 Vienna (Austria):

لومړی:

H.K. Kaiser , M. Shinwari : Aproximation compact pological algebra : contributions to general algebra 6 ; Page 117 – 122

1987 Vienna (Austria):

دویم:

H.K. Kaiser , M. Shinwari : Interpolation und Aproximation durch Polynime in Universalen Algebren . Diss . Uni. Wien

لاندې د شمیرپوهنې پښتوټول کتابونه په المان کې د ،، افغانستان کلتوري ودې ټولنه،،له خوا چاپ شوي دي

2000 Bonn (Germany):
دریم: د شمیرپوهنې ستر کتاب : د شمیرپوهنې برسیره د انجنري، فزیک او اقتصاد لپاره ، همداسې د ښوونکو او زده کوونکو لپاره (دا کتاب په ۹۰۰ مخونو کې چاپ او دا نوې لیکنه به یې ځنو ځایونو غزېدلې او ځنې ځایونه تري لرې شوي دي)

2003 Bonn (Germany):
څلورم: ځمککچپوهنه(هندسه) ، په سلو زرو کې شمیرنه، د ګټې – او کټې د کټې شمیرنه ، د اختمالوالي شمېرنه کتاب د ښوونځي ټولې اړتیاوې پوره کوي

2003 Bonn (Germany):
پنځم: الجبرونه (د الجبر بنسټونه دي)

2003 Bonn (Germany):
شپږم: د شمیرپوهنې انګرېزي – پښتو ډکشنري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

2003 Bonn (Germany):
اووم: د شمیرپوهنې المانې ـ پښتو- او پښتو المانې ډکشنري

Mathematical dictionary German/ Pashto and Pashto/German

2003 Bonn (Germany):
اتم: دفرنځیال برابرون (دا کتاب په دې څانګه کې یو پیل دی، ساده لیکل شوی)

Differential equation Translation; An Introduction

Bonn (Germany): 2003
نهم: د شمیر پوهنې فرمولونو ټولګه

Mathematical Formulas

2003 Bonn (Germany):
لسم: شمیرپوهنه له عربي په پښتو

1997 Bonn (Germany):

یوولسم: د افغانستان په هکله سپیني خبرې: په المان کې

،،د افغانستان روغې او بیا ابادولو ټولنه،، له خو

.یادونه: له ۲۰۰۰ کال دمخه ډاکتر ماخان شینواري د ،،د افغانستان روغې او بیا ابادولو ټولنه،، له خوا دري ساسي مجلې هم را وستلې.

د ډاکتر ماخان ،،میرې،، شینواري لیکنې او ژباړې چې په چاپیدو یې پیل کیږي

بن- المان، کابل – افغانستان ۲۰۱۲ ز ک

ژباړې:

لاندې د برینککن لیکنې چې له پرینمن ن ج څخه ژباړل شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

---

۱ - شمیرپوهنه د ښوونځي لپاره لومړی ټوک

۲ – شمیرپوهنه د ښوونځي لپاره دویم ټوک

۳ – شمیرپوهنه د ښوونځي لپاره دریم ټوک

۴ - د احتمالوالي شمیرنه

۵ – احصایه یا ستاتیستیک

لاندې کتابونه د شتوتګارت د پوهنتون د استادانو د لکچرونو څخه چې د شتوتګارت پوهنتون ن ج څخه خپاره شوي را ژباړل شوي.

۶ – انالیزی ۱

۷ – انالیزې ۲

۸ – کرښیز الجبر

۹ - د شمیرپوهنې بنسټونه

۱۰ - د فرمولونو ټولګه

۱۱ – فنکشنل انالیز

۱۲ – وکتور شمیرنه

نورې ژباړې

۱۳ – له www./grundstudium.info/linearealgebra څخه:کرښیز الجبر

۱۴ – Georg Gutenbrunner ګنونپوهنه یا د اعدادو تیوري

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما ليکنې

Bonn (Germany):

۱۵ - د شميرپوهنې ستر کتاب دويم چاپ د پوره تغيراتو سره : دا کتاب د شميرپوهنې برخې برسيره د

انجنري، فزيک او اقتصاد لپاره ، همداسې د ښوونکو او زدهکوونکو لپاره پوره ګټور دی. په

کتاب کې د اړتيا سره زياتونه او کونه راغلې

۱۶ - ځمککچپوهنه (هندسه) دويم چاپ د پوره تغيراتو سره

۱۷ – الجبر بنسټونه دويم چاپ له تغيراتو سره

۱۸ - ډېرې پوهنه يا ستې تيوري

۱۹ – د شميرپوهنې سم اند (منطق رياضي)

۲۰ - د يو څو شميرپوهانو ژوندليک

۲۱ – د شمير پوهنې ګډې وډې ليکنې

۲۲- داهم ژباړه ده، خو ليکونکی يې متآسفانه راڅخه نابلد شوی: د مشتق او انتيګرال شميرنو ته

تمرينونه او اوبيونې يا حلونه يې

۲۳ – د شميرپوهنې انګريزې پښتو او عربي + درې ډکشنري

۲۵ – د شميرپوهنې پښتو انګرېزي ډکشنري

(c) ketabton.com: The Digital Library

---

۲۵ – د شمیرپوهنې پښتو ډکشنري د شمیرپوهنیزو وییونو په پښتو روښانه ونه

۲۶ - د زړه له کومې(دا هغه لیکنې دي، چې ځنې یې په نړیول جالونو کې خپرې شوي دي.)

۲۷ – د افغانستان په هکله سپینې خبرې، چې وبه غزیږي.

نوري لیکنې، چې په ژباړه یې پیل شوی، خو لا پوره نه دي

– د شتوتکارت پوهنتون لکچرنوټونو څخه ، چې د شتوتګارت پوهنتون ن ج څخه خپریږي:

د ګروپونو تیوري

- د ښوونځي لپاره فزیک د برینکمن لیکنه

له پنځم ټولګي څخه تر اووم ټولګي پورې ژباړل شوی (دا چې زما دویم مسلک فزیک دی، دا لیکنې ژباړم. دا هم د دې لیکوال یوه ډېره ښه لیکنه ده، چې -د شمیرپوهنې په څیر- دلته هم زیات تمرینونه د حل یا اوبیونې سره په کې راغلي او ماته زیات ګټور برېښي)

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ليکوال ژوند ته لنډه کتنه

ماخان په اولني نوم ميرې شينواری د اروابنادي پستو او اروابناد نوررحمان زوي په ۱۳۲۰ ؟ ه لمريز کې د شينوارو هسکه مينه کې دې نړۍ ته سترګې راغړولي.

د هسکې مينې د لومړني ښوونځي (د لومړنيو زده کوونکو څخه وو) څخه وروسته د رحمان بابا ليسه له ۱۹۵۴ تر ۱۹۶۵ پورې(ښوونځي له لومړي ټولګي پيل او د دويم ټولګي څخه ګام او پای).

د ۱۹۶۶ تر سپتمبر د کابل طب پوهنځی. له ۱۹۶۶ سپتمبر څخه د اتريش برس، چې هلته يې د شميرپوهنې ډاکټري په پوره ستونځو تر لاسه کړه.

د۱۹۹۸۷ ش ک تر ۱۹۸۸ د فبروري تر پای د دباندنيو چارو وزارت کې مامور. د ۱۹۸۸ مارچ څخه تر ۱۹۹۲ جون پورې په بن کې د افغانستان جمهوريت سفارت شارژد افير(صفر نه وو). له هغې وروسته په جرمنې کې سياسي پناه. له ۲۰۰۸ مارچ څخه د ۲۰۰۹ دسمبر پورې د د رياضي څانګه کې د پوهنې وزارت درسي نساب کې دنده.

ماخان ميرې په ۱۹۷۲ کې له لرې د ميرمن ښاپيرۍ سره واده شوی، چې د واده خبر ورته اتريش ته راغی. ده له ميرمن ښاپيری سره په ۱۹۶۳ ز ک کې کوزده کړې وه.

دوي ته لوي څښتن په اتريش ويانا کې د مای په شلم ۱۹۷۹ ز ک دوه بچيان وبخښل، چې څانګه او اباسين نومېرې. څانګه په المان کې د پوهنتون علمي همکاره وه او د حقوقو ډاکتره ده او اباسين ملي اقتصاد او ټولنيزه سايکولوژي لوستلي.

ماخان شينواري بې کاره نه دی او لږ تر لږه له ۹۷ ۱۹ څخه همدا د کتابونو ليکلو اوو د ژباړې دنده يې په غاړه اخستې، چې خپل فکر د شونې پولې تازه وساتي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډاکتر ماخان (مېړی) شینواری

د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه _ جرمني
VEREIN ZUR FORDERUNG DER
AFGHANISCHEN KULTUR E.V

د خپرونو لړ (۱۲۹)

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library